عصمت - قانع

۱۳۵۸ - کابل - وزیراکبرخان مېنه

د سالنګونو ژمی

د هندوکش پر سر د واورو خلی
پورته لوړېږي - لا - جګېږي پسې
زي یخې او ظالمې څپې
له طوفانو سره ګډېږي پسې
په کړلېچو کې د خر انو خونې
واورو سنګینې کړځ ېږي پسې
د لوڅو - پوڅو بېور نو مېنې
کنګل پوښلي دي، پټېږي پسې
هلته په ورانو کنډوالو کې بیا
خواران کرېږي او چغېږي پسې

پروردګاره! پر موږ دا تېرېږي
بس ده، چې ستا ذات په رضا تېرېږي

چې ژمی راشي، په دې غرونو کې بیا
د ورو - ترو انګولا جوړه شي
د «سرخ کوتل» د ویرانو دپاسه
له غمه ډکه واویلا جوړه شي
د سردرو د کړېدلو خواکې
په انساتانو یوه بلوا جوړه شي
د کونډو - رنډو په جونګړو کې هم
د ماتمونو مشغولا جوړه شي
د یتیم اوښکې پر بارخو وچې شي
د ویر - ماتم بده غوغا جوړه شي

خدایه ! یا خپل کنترکورونه ورکړه
یا د قبرو پرځای کورونه ورکړه

له یخنۍ ډک د سالنګو بادونه
پر لوڅ - لغړ انسان ظلمونه کوي
د یخ له لاسه بې پناه مظلومان
د یوې بړستنې ارمانونه کوي
د ګاز په اور باندې بې نور تودیږي
دوی پر کنګل باندې خوبونه کوي

د یوې شړېه په تمه - تمه چې مري
دوی به د ژوند څه امید ونه کوي؟
ای د انسان او د جهان خالقه!
فلك به څو د ا گر دشونه کوي؟

یا خو آزاد ورته وطن کړې خدایه!
یا سپینه واوره یې کفن کړې خدایه!

سالنگه! د غه ستړ او لوړ هندوکش
یو وخت خو تاج د «اېشیا» د سر و
دلته د «خنج» د درې لوی گربتان
هوابازان پاس د سما د سر و
دلته «د لغلو» او «یاقوتو» غمي
د ښکلا زېب د «کنیشکا» د سر و

اوس مو په کور کې، د ماتم چیغې دي
روښنایي نه شته، د تور تم چیغې دي

حاجي غلام فاروق چشتي

د پردېسو سوغات

اورېدلې مې يو داسې حکايت دی
حکايت څه ؟ يو رښتونی واقعيت دی
يو سپېڅلی مجاهد، په " امريکا" کې
چې ولاړ و، د " يونو" د مجلس خوا کې
د افغان اولس رويداد يې ټول بيان کړ
شهامت د دغه قوم يې، عيان کړ
ويل يې : نر، ښځې، ځوانان واړه غزا کړي
څو د " روس " لښکرې ورکې او په شا کړي
دا سپېڅلی مقدس مجاهدت دی
بدل کړی موږ په مرګ په شهادت دی
په دې ګړ د جنګ، افغان څکه جوت شو
د روسانو ظلم، زور، زموږ قوت شو
که روسان هر څو مره ډېر او وسله وال دي
ناروا دي مخ ته تورن، مخ په زوال دي
ترهغه، چې يو "افغان" په دې جهان وي
له د ښمن سره به لاس په ګرېوان وي
توره شپه د ظلم او زور به رڼا کيږي
دا وطن او وطنوال به ودانيږي !!

خطابه وياند کړه خلاصه که يې کوري
افغانې ښځې راتلې، د ده په لوري
لو کړه ستړې راچاپېره شوه، په بيره
چا لاسونه ښورول، چا کړه خوله ويره
وې يې: اې د زړګي سره! خدای دې مل شه
نن زموږ په سترګو ستا مبارک پل شه
وياړ کوو، په سترګو وينو مجاهد خپل
کاشکې واړه صدقه شوای تر زاهد خپل
بيا يوې ښځې لاس پورته کړ په زوره
وې يې: اې د «افغان» پته موږ ته ګوره!
د زړه سوال، د روح غوښتنه ده څه وايو؛
موږه ټولې په يوه تصميم سلا يو
غواړو درکړو دا ګېڼې، دا موکړه غوږ
دا د مينې تحفې يوسه تر سنګره
دا يې ووې؛ بيا له غاړې-غوږو دواړو
کړې ورخلاصې، غاړکه او ږي ږي واړو
واړه دا يې تحفه که څه هم، نه ده د سره
د پردېسو دغه لږ، په ډېرو شمېره
مال او سره زيب و زينت په خپل وطن کې
ښه ښکارېږي، لکه روح چې وي په تن کې
ده را غونډ کړل په سلګيو، په آهونو
چې يې ورکړې په ټوپکو -په توپونو

زرکه

د مورچل یاد

چې د شپې په کټ کې واوړم، راپه زړه شي
توري پرشې، ځیږې تیږې، ساړه غرونه
له یخنۍ چې مې، برېښنځ په مخ راکاږم
راته یاد شي، بر په غرو کې سنګرونه

═ ═ ═

نیمه شپه په کټ کې کښېنم، ورو- ورو ژاړم
لکه پرخه پر ګلونو، پټه ژاړې
ترسهاره مې یخني او ځیږې تیږې
او سرې باړې وي، سترګو ته ولاړې

═ ═ ═

زه چې ګرمې بسترې کې نه تودېږم
ستا احوال به، په واورینو غرو کې څه وي !؟
زما سر، چې په پاسته بالښت خوبېږي
ستا آرام به، په ځیږو کمرو کې څه وي !؟

آخر یو ځل، خو په زړه ظالمه، راشه !
چې زه هم، د تا، د پټ دلارې مله شم
تودې اوښکې مې، بځایه دلته څاڅي
پرېږده بس دې، د تیاره سنګر ډیوه شم

که یخنۍ د رباندې زور کاوه محبوبه !
په سندرو به دې وینه تودومه
که لښکر د غلیم راغی، په خندا به
ستا په زړه کې، بیا هم مینه پالومه

زه امرزو ته غاړه وځم هیڅ پروانکوم !
ما وطن پرېښود بس د خپل ګلي د سپو دلاسه
«ډاکټر اقبال نسیم خټک»

شیخ فرید الله - فرید

د ورور په ننګ

شیخ فرید الله - فرید د شیخ قدرت الله زوی، په کال ۱۹۶۷ د ستر صوفي شاعر حضرت عبدالرحمن بابا د کلي (بهادر کلي) د «شیخانو» په کندي کې پیدا شوی دی. بنا غلی فرید د لوی ولي الله حضرت شیخ خانګل صاحب له اولادې څخه دی او س - سبا د «دره ادم خیل کالج» په دولسم ټولګي (F.S.C) کې زده کړه کوي.

ده شاعري له ۱۹۸۳ کال څخه شروع کړې ده او لکه څنګه چې د شاعرانه صداقت غوښتنه ده، د افغانانو په درد دردمن او خوږمن دی.

- اداره -

ټورې ورېځې په «کابل» باندې خورې دي
په «کابل» باندې راغلي د غم شپې دي

خدایه ! د غه سیلاب کله به وچیږي ؟
د افغان په خ.ونه ګلو زلـــزلې دي

آ، چمن د سرو ګلونو، نن خـــزان دی
پرې الوتي، چې د سرې سیلۍ خپې دي

خدایه! ولې د مظلوم فریاد، نه اورې ؟
په افغان ورور مې راغلي ترېــــکې دي

د غمونو دغه اوښکې به ترڅو وي ؟
ځان ورک شوی د خپل ځانه، چې تیارې دي

ای افغانه وروره! ته یوا ځې نه یې
زما زړه کې هم، پرتې ګرمې جذبې دي

زه «فرید» به ځان قربان د وروروپه‌ننګ کړم
ځکه نن مې نوښتې، په وینو سرې دي

مردن بروی بستر از آئین مرد نیست
بازی بخون خویش نمودن مراد ماست
تخییل ما، به «حب الوطن» شده الفت
سر باختن براه وطن، شاهکار ماست
«سرشار شهید»

نامهٔ وارده

به ادارهٔ محترم «سپیدی» ! سلام علیکم .

موفقیت مزید شما را در سنگر فرهنگی جهاد از خداوند لایزال استدعا میدارم .

جد وجهد بی شایبه ومستمر شما در راه نشر، احیا، حفظ ونگهداشت ثروت وسرمایه فرهنگی وادبی انقلاب وملت مؤمن وباشهامت افغانستان درخور ستایش وتحسین است . امید وارم نامه ام درسلول دوسیه یا الماری به حبس ابد محکوم نگردد ، البته درصورتیکه از لحاظ ترکیبات لفظی اشتباهی کرده باشم درکوپی کشی آن اختیار کامل دارید ؛ اما احتیاط که جان نیم جان خود را از دست ندهد . و گوش وبینی آنرا به حساب زبان درازی قطع نفرمائید .

درشماره چارم سال دوم سپیدی یادی ازدوست گرامی ام و

محمد عارف - غږوال

د بشریت دستر لارښود صلی الله علیه وسلم
په وړاندې

د خپلواك ژوندون نسیمه، راچلیږه - راچلیږه!!
ای د پاك الله رسوله! رارسیږه - رارسیږه!!

په امت دې، توره شپه ده ، پرې وریږي سره اورونه
انسانیت کلونه بار کړي، مرګ او ژوبله ده، ظلمونه
نن مغوی په وینو پراته دي، چې په نوم دې قربانیږي
خپل وطن د ی ترینه پاتې، پرې شول ډك پردي ملکونه

لږ د رحم نظر وکړه ، لږ پیرزوینه ورځنیږه ! !
ای د پاك الله رسوله ! رارسیږه - رارسیږه ! !

شاعر گرانقدر وطن سرشار روشنی را به خامه پرسوز رفیع صاحب مطالعه نمودم ویکبار دیگر خاطره های در ذهنم زنده ساخت، خاطره-ها و یاد اوری های که با شاعر توانای کشور سرشار شهید سالها ی سال همکار بودم، از صحبت های ادبي انجناب وان اندوختنه هـــای علمی آن نویسنده مبارز یکایک جلو چشم اشکبارم مجسم گشت .

مجله سپیدي که درخط نشراتی خود یادی از شعراء وادبای زندان خورده کشور را در دست گرفته براستی که قدمی است بس حیاتی واقدامی است ارزشمند وتاریخی .

محترما !

چندی قبل کتاب پرطاووس اثر محترم مولانا محمد حنیف-حنیف بلخی را با ولع واشتیاق زیاد مطالعه نمودم، درصفحه ۴۳۳ ذکری از شهید سرشار به میان امده است. بعد از معرفی مختصر سرشار شهید چنین نبشته شده است : « طوریکه چرخ را شیوه-دیرینه است نگذاشت این سخن گوی با درد درین دوره نضج ویختگی خود چندی از طریق نویسندگی واشعار ابداری خدمتی بوطن و وطنداران انجام دهد ، اورا در اختناق ومضیقه قرار دادند . درحوت (۱۳۶۰ هش) بعمر پنجاه ویک سالگی بزیر نقاب خاک کشید . (ص ۴۳۴ پرطاووس.) »

که این خود نمایانگر چشم پوشی از جور وستم روسهای وحشی ودست نشاندگان آن (خلق وپرچم) وحق تلفی درخصوص ادیب گرانمایه کشور ودر عموم ادب وفرهنگ وتاریخ مردم

سلحشور و مؤمن ما میباشد.

چه سرشار شهید زیر شکنجه های غیرانسانی روسها وخادجان شیرین خود را به جرم دفاع از عقیده، وطن و مردم خود از دست داد وجام شهادت سرکشید «سردادند و سپرنداشتند» جای تعجب است که اقای رفیع نیز در نگاشتن سوانح شهید سرشار بطور مأخذ ذکری از پرطاووس مینماید، نمی دانیم اقای رفیع چطور از تذکر این واقعیت که در کتاب پرطاووس شهادت سرشار تائید گرفته شد، کتمان واغماض نموده است.

از فحوای نوشتار اقای حنیف بلخی چنین استنباط میشود که پرطاووس در کابل مطابق مزاج دولت فروخته شده کابل به رشته تحریر درآمده که در صفحه ۳۹۴ آن کتاب موضوع شهادت پائیز حنیفی نیز طوری تحریر یافته که را دیو کابل — وسائر نشرات دولت مزدور کابل همچو یاوه سرایی های کرده است.

ما کاری نداریم که محترم حنیف بلخی روی چه منظور و مصلحت عوض افغانستان از آریانا یاد می نماید، هرچندکه تکرار خراسان وآریانا و بجای افغانها افغانستانیان وهمچو تلاشها چیزی است که نه به نفع انقلاب وابستگی دارد ونه به نفع مردم.

گذشته ازینکه محترم حنیف صاحب در شرایط انقلابی وجهادی مان در دیار هجرت وآوارگی درکتاب پرطاووس خود ازکسانی با تمجید وستایش یاد نموده که الان در رادیو کابل وجبهه ملی پدر وطن کله جنبانی میکنند.

ولی ما از نویسنده گرامی استاد خلیلی که تک مقرظ جاهد آن کتاب به شمار میرود گیله ای داریم، جنانیکه درحق سرشار شهید که حتی افتخار کلمه شهادت را نیز از وی ربوده است، صورت گرفته متوجه نه شده ودر صحت وصدق آن دست نیاز یده است، که موجب رنجش عمیق بازماندگان و دوستان سرشار شهید گردیده است.

خوشبختانه که شماره ۴ شهیدی این نقیصه وجفا را یقیناً طوری که لازم بود تلافی کرده لذا ذکر این موضوع را ازخاطری لازم میدانیم که قلمداران ما حوادث انقلاب، مسائل مربوط به انقلاب وفرهنگ وادب را با همه ابعادش رسانتر وکاملتر وانچنانکه هست درخط دفاع از مستضعفین و روحیه جهاد ودرجهت مخالفت بادشمنان دین و وطن و فرهنگ اسلامی مادرج صفحات تاریخ نمایسند ودرین راه ازمصلحت پرستی ومحافظه کاری ننگین وعصیا نخیز جداً خود داری نمایند.

والسلام

وحید الله «واقف»

از اسلام آباد

۱۰ - ۹ - ۱۳۶۴

غوښتنه

د „سیسیدې مجلې اداره په نظر کې لري، چې د پاکستان د پښتو ژبې خواخوږو شاعرانو، د هغو شعرونو نمونې، چې د افغانستان په روان جهاد پورې اړه لري، د شاعرانو له تصویرونو او لنډو سوانحو سره، د یو ځانګړي کتاب په شکل خپاره کړي.

له دې امله، درستو محترمو شاعرانو ته خواست کوو چې له موږ سره، د خپلو شعرونو او تصویرونو په رالیږلو زمونږ هیله، ترسره کړي.

(په درښت)

د دوتنې شرحه:

په افغانستان کې د څګنز ویله - ښوول او سوځول عادي چارې دي. وحشیانو د یو ماشوم روحیه د ورانې شوي کور او تباه شوي کورنۍ په مقابل کې.

THE ASSOCIATION FOR THE HEIRS & DESCENDANTS OF THE MARTYRS & THE HANDICAPPED

HELP GENEROUSLY THE HEIRS OF THE MARTYRS AND HANDICAPPES OF AFGHAN JIHAD

The association of the Heirs of Afghan Martyrs and Handicapped is an independent body, established for assisting the families of the Martyrs and Handicapped of the Afghan Jihad, without any prejuidice and discrimination or party affiliation.

This association has, so far, assisted 149 families of the Martyrs and Handicapped of the Jihad of Afghanistan in cash to the tune of Pak Rs. 285955.00 in several instalments and has arranged to assist 1500 more such families in the near future.

This association is meeting out stipends and allowances on a regular basis to all the deserved families of the Martyrs and Handicapped.

Further checking and registeration is still continuing.

Account No.
2299 United Bank
Hamam Street Sadar Road Peshawar
Pakistan

Mailing Address
The Association for the Heirs & descendants of the Martyrs & the Handicapped
Afghanistan
G.P.O. BOX 397
Peshawar Pakistan

Foreign
Account No. : 115 United Bank Limited.
Hamam Street Sadar Road Peshawar
Pakistan

Sincerely Yours,

ستا د دين، د بلې شمې پتنګان، نن لولپه شول
ستا د پاکې حقې لارې پيروان، نن لولپه شول
په نامه دې چې نازيږي، چې په دين دې قربانيږي
خدای پرسته، حق پالونکي افغانان نن لولپه شول

نو، باران د رحم و فضله! را اوربږه - را اوربږه!!
ای د پاك الله رسوله! را رسيږه - را رسيږه!!

موږ د خدای د دين له پاره، خپل سرونه نذرانه کړل
دښمنانو مو کورونه، په بمونو ويرانه کړل
په خوارږه وطن مو جوړه، د غمونو کربلا ده
هست و بود مو ستا په لار کې، له يو مخې شکرانه کړل

التجا مو کړه قبوله، د حق نوره وځليږه!!
ای د پاك الله رسوله! را رسيږه - را رسيږه!!

چا وطن نه کډه وکړه، څوك مو رچلو کې جنګيږي
د چا خونې کنډ واله شوې، څوك په سره اور کې سوځيږي
څوك جيلونو کې وراسته شول، تربنه دوکې جيلخانې دي
څوك ژوندي په خاورو خښ شول، څه وحشت دی چې تيريږي

ستا د سر قربانې غواړي، نو، غرواله روانيږه!!
ای د پاك الله رسوله! را رسيږه - را رسيږه!!

عبدالله غمخور

اسویلی

زخمي زړګی ټکوروومه په زړو یادونو
د هجر ستونځې تېروومه په زړو یادونو

په تمه تمه د مرغۍ په شان په لویو میرو
په ډکې شپې سبا کومه په زړو یادونو

د بنو څوکو له راغلي مسافرې اوښکې
پخلا کوم، کراروومه په زړونو یادونو

نوره تیاره ده لاره ورکه ده منظر نه لګي
د یوې د زړونو بلوومه په زړو یادونو

دا څه را وښو نه پوهېږم د خوږو په خوږو
د خولې نمرې خوږه کومه په زړو یادونو

د هرچا خوښه که په هغه، که په دا پسې ځي
زه به زړې لارې ساتمه په زړو یادونو

حالات بدل شو نړې سترګې راته پاتې دي
د زړو سترګو سود کومه په زړو یادونو

چې زمانې راته اشنا سترګې ناشنا کړلې
نور به د ګلو کیږدې بندمه په زړو یادونو

محمد عرفان ختک (د آکوړی)

داسې کيږي کله کله!

ای بې کوره افغانانو !
داسې کیږي کله - کله
زما ورونو مظلومانو !
داسې کیږي کله - کله .

* *

ژوند میدان، د حادثو دی
ژوند کاروان د حادثو دی
ژوند وږ، نوم د ژړیدو دی
نوم د ساندو - د سلګو دی
ژوند غمونه دي - دردونه
ژوند فکرونه دي - سوچونه
ژوند تکلیف دی - عذابونه
ژوند مزې دي، هم خوندونه

سترګې وچې کړئ خوارانو!
داسې کیږي کله-کله
زما ورونو مظلومانو!
داسې کیږي کله-کله

* *

خدایٔ به وکړي، بیا به راشي
هغه ښکلي تېر وختونه
بیا به کړئ، په کټ- پوزي خپل
د آرام خوب د خوبونه
بیا به هغسې لمحې وي
د هر غمه بې نیازه
بیا به هسې ورځې- شپې وي
د هر غمه بې نیازه

* *

د اسلام مبلغانو!
داسې کیږي کله-کله
زما ورونو مظلومانو!
داسې کیږي کله-کله

* *

د آزادۍ سحر به راشي
د خدایٔ در کې کمی نه شته

د سيالۍ اختر به راشي
د خدایٔ در کې کمی نه شته
يوه ورځ به مو، نصيب بيا
تلك په لور د خپل ديار شي
لوږې- تندې، به شي تېرې
هر يو شی به، بېش- بسيار شي

* *

سر بازانو- غيرتيانو !
داسې کيږي کله- کله
زما ورونو، مظلومانو !
داسې کيږي کله- کله

* *

قرباني به مو، رنګ راوړي
د اسلام علمبردارو !
ماتې نه خوري، يو د کر کې
مرستيال، د حقو چارو
عاقبت به، بري مومئ
ستاسو مل، غني- غفار دی
سر بالا شئ- سرفراز شئ !
درختله، دغه ګفتار دی
حوصله کړئ ځوانانو !
داسې کيږي کله- کله
زما ورونو، مظلومانو !
داسې کيږي کله- کله

عبدالمتين ـ تسکين

«پکتيا» ته !

د افغان د توري ښخنې پکتيا
د دښمن په زړه کې ښخنې پکتيا
ځکه غرو ته دې، سلام دی
ننګيالو ته دې، سلام دی

* *

هره ونه دې، غيرت دی
هره تيږه دې، همت دی
هر يو ځنګ دې، ننګيالی دی
هر غورځنګ دې ، بريالی دی
هر بچی دې، توريالی دی
ځنګيالی دی ـ نوميالی دی
ټول د ځنګ په کار، پوهيږي
ټول د ننګ په کار، پوهيږي
شازلمو ته دې، سلام دی
ځکه غرو ته دې ، سلام دی

د دښمن په زړه کې خښنې پکتيا
د افغان د توريږخښنې پکتيا

* *

د دښمن ملا دې، کړه ما ته
بيا به، نه ګوري ، ستا خوا ته
ډېر پوځونه دې، تباه کړل
ډېر ټينګونه دې ، تباه کړل
دښمنان دې،وارخطا کړل
څو-څو وارې دې،په شا کړل
زور د تورې دې، ښکاره کړ
کړېملين دې، په لړزه کړ
افسانو ته دې،سلام دی
جګو غرو ته سلام دی
د دښمن په زړه کې خښنې«پکتيا»
د افغان د توريږخښنې«پکتيا»

* *

د نيپالم په بمونو
له آسمانه په اورونو
څو-څو وارې، سره لمبه شوې
تکه‌سره شوې، لولپه شوې
خو :

ننګونه دې، ونه ، ول
غیرتونه دې ، ونه سول
یوه کیسه شوې، د ننګونو
د افغان د تاریخونو
کارنامو ته دې، سلام دی
جګو غرو ته دې ، سلام دی
د دښمن په زړه کې خنجې «پکتیا»
د افغان د تورې ځنبې « پکتیا »

* *

ستا په دنګو- دنګو غرو کې
د نښتر- ښېړو ځنګلو کې
ستا درو کې - ستا باندو کې
ستا په پېغلو- په زلمو کې
د وطن د مینې ساز دی
د آزاد ژوندون آواز دی
د رښتینې رڼا نور دی
یوه مزه ده- یو سرور دی
مېړنو ته دې، سلام دی
جګو غرو ته دی، سلام دی
د دښمن په زړه کې خنجې «پکتیا»
د افغان د تورې ځنبې « پکتیا»

ح، رفیع

...خو ستا تر توپك وكرځم!...

توپك د جنګ حرې دی!
توپك د وحشت څښتنه ده!
توپك د انسان او انسانيت د ښمن دی!
توپك اورونه بلوي او ويرونه زېږوي!

* * *

زما له توپك څخه كركه كيږي!
زما د توپك ماشې ته ګوته نه ورځي!
زه د توپك له واورولو سره بلد نه يم!
او زه د توپك چلولو په چل نه پوهېږم!

* * *

خو كله چې د وحشي دښمن توپك زموږ سيني ته سم شو!
كله چې د تجاوز د توپك شپېلۍ زموږ لور ته راواوښته!
كله چې په توپك سنبالې وحشي لښكرې زموږ په ملك راخورې شوې!

او کله چې د کمونیزم برېخو زموږ د خاورې آرام د توپك په غږ مات کړ !

* * *

له دې سره زموږ د ملت د غلامېدلو وېره راپیدا شوه !

له دې سره زموږ د دین او وطن د له لاسه تللو خطر را منځ ته شو !

له دې سره د آزادو هېوادو له کتار نه زموږ د هېواد د وتلو ډار راولاړ شو !

او له دې سره د افغان او افغانستان د هرڅه مادي او معنوي شتمنیو د له منځه تلو شرایط په مهیا کېدو شول !

* * *

د هېواد زړوره او ایمانداره مجاهده !

د وطن رښتینیه او صادقه زویه !

د دنیا د بام ساتونکیه عقابه !

هغه وخت و، چې تا هم توپك ته لاس اوږد کړ !

* * *

ستا د توپك له غږ سره د حق غږ پورته شو !

ستا د توپك له ډز سره د نړېوالو غوږونه خلاص شول !

ستا د توپك له گوزار سره د باطل غړي سست شول !

ستا د توپك له ټك سره د هېواد ټکونه او بریدونه محفوظ شول !

ستا د توپك له ماشې کشولو سره د سره بنکېلاك په رگونو کې

وينه وچه شوه !

ستا د توپك له برېښنا سره د آزادۍ د لمر ځلا غبرګه شوه!

او ستا د توپك له ګولۍ سره د افغانستان خوږه ګوله بيا هم

د ښکېلاك له خولې نه ولويده !

* * *

نو :

سره له دې چې زه له توپك نه کرکه لرم !

او سره له دې چې زه په دنيا کې د توپك او جنګ ورکيدل

غواړم !

خو :

ستا په توپك وياړم !

ستا په توپك نازکوم !

ستا تر توپك ځارېږم !

او د زړه له اخلاصه وايم :

« ستا تر توپك وګرځم ، اى نره مجاهده ! »

ياګردن روزګار را زنجيرى

ياسرکشى زمانه را تدبيرى

اين زاغوشان بسى پريدند بلند

سنګى چوبى ګزى خدنګى تيرى

« شيخ ابوسعيد ابوالخير »

سید محی الـدین ـ رنځور

لیـــدلی خوب

دا لیدلی خوب، د هغو خوبونو، په ډله نه دی ، چې هرڅوک یې د ویده کیدو، په وخت کې وینې .

د افغانستان ستر لیکوال ، ادیب او نومیالی شاعر، اروا- ښاد استاد ګل پاچا الفت، دا ډول خوبونه، د زړه په سترګو لیدلي خوبونه ګڼلي او ویلي یې دي :

فکر کې خیال ، په خیال کې فکر نیول
رنګ ته معنا ، معنا ته رنګ ورکول

د شاعر کار دی ، شـاعري وګڼه
د زړه په سترګو ، خوب په ویښه لیدل

هوکې !

ما هم دا خوب په ویښه ، د زړه په سـترګو لیدلی دی او له هغو خوبونو سره یې توپیر هم جوت دی ، چې نور یې په پټو سترګو وینې .

که څه هم، زه د خپلې پوره شاعرۍ کومه دعوه نه لرم ځکه چې شاعري ډېره درنه او له مسوولیته ډکه وظیفه ده، هسې مې د نورو شاعرانو پېښې کړې دي او په دغه سخته نرۍ او له مسوولیته ډکه لار روان شوی یم .

ما دا شعر «لیدلی خوب» د ۱۳۶۱ ش، هرکال د وږي دمیاشتې په اوومه نېټه، هغه وخت ویلی، چې زه د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو د پوهنځي د څلورم ټولګي د وروستي سمستر محصل وم، او د خپلې سیمې (بلایالی) د خلکو له غمه ډکې تراژیدي پېښې څخه خبر شوم، چې د موجوده ګوډاګي حکومت او بې دینه وحشي روسانو، د خو پرله پسې بې رحمانه بمباریو او عملیاتو په نتیجه کې، د دغه قریې د شپږ کلیو تقریباً (۱۳۰۰) کورونه په یوه ورځ (د «وږي» په پنځمه نېټه) د خپل کور او کلي پرېښودو ته مجبور شول. د دغې پېښې خبر زما په شاعرانه احساس ژور تاثیر وکړ او دغه بدمرغه حالت مې په نالیدلي توګه، په یو شعر کې د «لیدلي خوب» په نامه انځور کړ؛ وایي چې د لیدلو او نالیدلو ترمنځ ډېر فرق وي، خو ما چې د خپلې سیمې دغه نالیدلی غمناک حالت په نیمګړې توګه په شعر کې، ترسیم کړ او بیا یو څه وخت وروسته مې، هغه د سر په سترګو ولید، نو له هغې شعري انځور سره یې ډېر کم توپیر درلود.

زما دا شعر، د ګران افغانستان د یوې ډېرې ورې سیمې

(بلایالی) د بدمرغه حالت، یوه نیمګړې شان تابلو ده، خو تاسې به په خپله لیدلي او یا اوریدلي وي، چې زموږ د هېواد په ګوټ ګوټ په خلکو دغه حالت راغلی او د موجوده ګوډاګي رژیم او اسلام دښمنه او انسان دښمنه وحشي او ځنګلي روسانو د وحشیانه ناروا تېرې او زور- زیاتي له امله ډېر کلي، کورونه، بانډې او حتی ښارونه، په کنډوالو بدل شوي او اوسېدونکي یې یا وژل شوي او یا د خپل هېواد، تاتوبي او کور وکلي پرېښودو ته اړ شوي دي.

درنو لوستونکو! د مخه تر دې، چې «لیدلی خوب» ولولئ ښه به دا وي، چې هغه سیمه هم لږ و ډېره درو پېژنم، کوم چې دا شعر یې، د بدمرغه حالت، یو نیمګړې عونډې انځور دی.

دا سیمه «بلایالی» نومیږي، چې د اداري وېش له مخې، د ننګرهار ولایت د کوز کونړ په اولسوالۍ پورې اړونده (مربوطه) ده.

دا سیمه د ننګرهار ولایت شمال- ختیځ خواته، په (۳۰) کیلومتره کې، د «درۀنور» د ښکلې درې په خوله کې، د کونړونو د ولایت، د عمومي سړک، پر غاړه پرته ده.

په دغه قریه کې تقریباً (۱۲۰۰) کورونه په اوو کلیو (لوی کلی برکلی، پورې کلی، احمد بېک کلی، قلاوالو قلا، کنډار، سورچ) کې اوسېدل، چې زیاتره یې په قوم ساپیان وو. دا په ټول کونړ کې، له اسمار او بریکوټ څخه وروسته، دوهمه سیمه وه، چې د غوبي د تورې کودتا په هماغه لومړیو ورځو کې یې، د نوي را منځ ته شوي کمونستي رژیم پرضد پاڅون وکړ.

دې سیمې د ځمکني موقعیت او محلي سوق الجیشي له نقطه نظره پوره اهمیت درلود. ځکه چې له یوې خوا د کوز کونړ، په درې کیلومترۍ او د ډدرې نور، د علاقدارۍ، په پنځه کیلومترۍ کې، د دواړو تر منځ په یوه داسې حساسه نقطه کې واقع وه، چې وخت-په وخت دواړو دولتي ارګانونه، له هدې ځایه تر اوور لاندې نیول کیدل. او له بلې خوا، د کونړونو عمومي سړك ته نژدې وه، چې د پوځي مهماتو هیڅ کاروان ترې کونړ ته، روغ-رمټ، نه شو تېریدی. نو ځکه د کمونستانو د لاس پوځي موجوده حکومت زیاته پاملرنه یې، خپلې خواته راګرځولې وه.

موجوده دولت او وحشي روسانو، په بېلو بېلو وختونو کې، د افغانستان د نورو سیمو په څېر، د دې ځای د اوسیدونکو سره هم، له هیڅ دول غیرانساني او غیراسلامي، چال-چلند څخه ډډه، و-نکړه. د بېلو- بېلو بمباریو او ځمکنیو عملیاتو، په لړ کې یې، د دې سیمې، څو سوه کسان شهیدان کړل. زیاتره کورونه، په کنډوالو بدل شول او چې پاتې اوسیدونکو ته، په خپله سیمه کې د شپو او ورځو تېرولو هیڅ یوه لاره پاتې نه شوه، نو تول، په یوه ورځ، د کورو کلي پرېښودو ته، اړ شول.

هو کې !

د دغې سیمې خلك هم، د نورو افغانانو په څېر، رامهاجر شول او له زیات وکم (۱۳۰۰) کورونو څخه، یو کور هم هلته پاتې نه شو–

کورونه شړې کنډوالې ، د کښت ځمکې او کروندې ځنګلونه شول ، خو هغه سیمه، هلته چې بې سرپرسته پاتې نه شوه ؛ د آزادۍ د لارې شکیالي او جنګیالي مجاهدین (چې زیاتره یې د همدې کلیو او سیدونکي دي) په خپله اړونده سیمه پوره لاس بري دي او دغه حساسه نقطه، لا اوس هم د جهاد د یوه تاوده سنګر په توګه د دښمن د سترګو اغزی ده . له هغه ځایه دوه ځله ، د ډیره غونډۍ علاقداري ړنګه شوې او د اولسوالۍ بې شمېره پوستې وهل شوي دي او تر ننه پورې لا تړې ګوبني ته ، د پوځي مهماتو کاروان روغ نه شي تللی .

درنو لوستونکو !

په دې برخه کې ، که هر څومره خبرې وشي ، هم لیږې دي د محنه تر دې ، چې خپلې خبرې پای ته ورسوم ، ستاسې پاملرنه ، دې ټکي ته راړوم ، چې یو خو به ، په دې شعر کې ، د شعر فني ښکلا د نیمګړتیا له امله ، ما ته د انتقاد ګوته ، نه نیسئ . او بل دا چې په شعر کې د کومو اشخاصو او ځایونو نومونه راغلي دي ، هغه به پرله پسې نمرې نښه شوي دي ، په هغو ، د پوهیدنې له پاره به ، د وروستۍ پاڼې ، نوم ښود ، ته مراجعه وکړئ .

او په پای کې زما معذرت ومنئ ؛ د شعر په هکله ضمني خبرې را څخه اوږدې شوې ، هسې نه ، چې په لوستلو یې ، دومره ستړي شئ چې بیا درېږه ، د شعر د لوستلو توان نه وي .

ـ په درنښت ـ

لیدلی خوب

بېګا تللی وم، په خوب کې ګرځېدم په کور او کلي
کنډوالې د کلي - کور مې له یوې مخې کښتلي
چې راپورته شوم له خوبه، ترسهاره مې ژړلي
بېلا بېل یې درته وایم، هغه څه، چې ما لیدلي

نه پوهېږم، چې دا خوب و که پرده د دنیا وه
عجیبه شانته حالت و، راته هر څه معما وه

بېګا تللی وم، په خوب کې، چې ور ورسېدم کور[1] ته
هسې شړې کنډوالې وې، چې مې وکتل هر لور ته
سراسر چوپه - چوپتیا وه، هیڅوک نه و بنکته - پورته
چا شړلي وو له مخې، هک - حیران شومه، دې زور ته

بیا اوچت شوم، د بام سر ته هرې خواته مې نظر شو
په نظر مې څوک رانغلل زړه زما پرهر - پرهر شو

په نظر مې څوک رانغلل، چې مې کړي وای پوښتنه:
د دې ځای خاوندان څه شول، کوم خوا تللي له وطنه؟
دوی خو، دلته ژوندګي کړه، کور پرې ګران و، له هر څه نه
له دې ځایه لاړل چېرته، مجبور شوي وو، له څه نه؟

توره شپه مې شوه په سترګو، له قلا نه رابهر شوم
برابر راغلم د برې ته، څه ساعت سر په زنګون شوم

چې مې سر له زنګون جلا کړ، نژدې شوې مانیګر و
ما وېل څه تر «لوی کلي»[۲] چې په خلکو ځه اثر و
چې روان شوم مخ پورته، هرې خوا ته مې نظر و
په نظر مې ځوند رانغلل، نه څولک بنځه - نه کوم نر و
د «دروزګرو په دېره»[۳] کې، نه «کوکو»[۴]، نه «ملا»[۵] و
عجیبه شانته حالت و، راته هرڅه معما وو
چې د کلي مخ ته راغلم، دلته حال په هغه شان و
سراسر چوپه - چوپتیا وه، نه لویان - نه ماشومان وو
نه د خلکو ګڼه - ګوڼه، نه دوکان کې «انګېران»[۶] وو
چې جومات ته ورښکاره شوم، نه ملا - نه مقتدیان وو
له جوماته رابېرون شوم، مخ په کلي ورروان شوم
نه دوکان کې «ګل مېران»[۷]، نه «غمرجان»[۸]، و هلته حیران شوم!
بیا کوڅه کې لاړم پورته، څوک مې رانغلل نظر ته
چې له کلي نه بېرون شوم، نو وروګرځېدم «جر»[۹] ته
نه څولک بنځې، نه منګې وې، پام مې وکړ لر او بر ته
ما وېل: څه شولې اې خلکو! له دې ځایه لاړې چېرته؟
کوم افت را نازل شوی، چې له یو مخې تباه کړې!
درنه یو هم پاتې نه دی، چې له حاله مې اګاه کړې!
بیا د کلي په شا راغلم، په «دېره د ملا یاسو»[۱۰]
نه «غزن ماما»[۱۱] دېره کې، نه معلم صیب «اکبرخان»[۱۲] و
نه د «شرین قلا»[۱۳] خوا کې، ولیبال و، د ځوانانو

نه د بره کې لوی-واړه وو، نه په لاره څوك روان و
بیا د کلي په خ راغلم «قلا والو قلا» لور ته
تولې شرې کنډوالې وې، چې مې وکتل هر کور ته
له هغه ځایه روان شوم برابر خ په «کندرو»[15]
چې «نیالګی»[16] د برې ته راغلم، نه «خیرو»[17] و، نه «نادر»[18] و
نه خندا د «رسول خان»[19] وه، نه یې غبر و، د سندرو
نه په بنکته «شالیزاره»[20] کې د خلکو څه اثر و
«احمد بېك»[21] کلي ته راغلم، هلته هم چوپه-چوپتیا وه
عجیبه شانته حالت و، راته هر څه معما وه
بیا روان شوم، په «بر کلي»[22] هلته هم، چوپه-چوپتیا وه
نه دوکان کې «سیدا ین»[23] . ، نه «کل سرې»[24] نه یې سودا وه
نه لویان نه ماشومان وو، نه ژړا وه - نه خندا وه
هر څه پټه خوله ګویا وو، مګر ماته معما وه
چې په «پورې کلي»[25] راغلم، یکې هم هغه حالت و
هیڅوك نه وو بنکته-پورته، کاني-بوټي په هیبت وو
ما ویل: لاړ به شم، په «کنډې»[26] راټول شوي به ځوانان وي
څوك به «ارتوي د برې»[27] په «خوسي»[28] به هلکان وي
څوك به «لوبې د پنډوس»[29] کړي، څوك به «دوه ټپي»[30] روان وي
څوك به کړي توکې ټکالې، څوك به هسې خوش-خندان وي
خو چې رغله په «کنډې» هیڅوك نه وو بنکته-پورته
یو ساعت حیران ولاړ وم، بیا مې پام شو د غزه لور ته

چې مې پام شو، د غره لوړته، یو څو تنه، په راتلو وو

راروان وو، ځ په بېړه، تر مخکو نه یې یې/ په اوږو وو

نه پوهېږم ولې، څه د پاره، سمبال شوي، په وسلو وو

چې نژدې شول، زما خوا له، سملاسه په ګواښو وو

وېلې : څوک یې ؟ د لته څه کړې؟ یې راغلی کوم خوا نه؟

څه د پاره یې راغلی، راته ووایه، ای ځوانه ؟!

ما وېل : مه کوئ ګواښونه، تاسو راشئ، زما خوا له

خدای د پاره ما خبر کړئ، د دې خلکو له احواله

په دې کلیو کې اولس و، اوس دی تللی، کوم خواله؟

کوم افت پرې نازل شوی، چې له منځه شو پایماله

چې د خلکو یقین راغی، چې دا هم د دې کوروڼو دی

ناخبره دی له حاله، ځکه موږ ته په نارو دی

چې د خلکو یقین راغی، نو له حال یې کړم خبر

د دې حال په اورېدلو مې زړه شو، پرهر - پرهر

ما وېل : خیر که ظالمانو مو اولس کړ در په در

د مظلوم د سترګو اوښکې، او سېلې لري اثر

نن - سبا به، په دښمن هم زموږ جوړې زلزلې شي

خیر که سل ځل، دا کوروڼه زموږ، شړې کنډوالې شي

خو، که موږ او تاسې ورونو! سره یو موټی اولس شو

که راټول په یوه چیغه سره واړه عام او خاص شو

په یووالي - اتفاق به ژر، له دغې بلا خلاص شو

که نه! خپل منځ کې ورکېږئ څوک به کوز شو، څوک به پاس شو
نو! د خدای دپاره وروڼو! له نفاق نه لاس په سر شئ!
لاړ شئ، خلکو، اولسونو، په ناروـ په چیغو سر شئ!
نه پوهېږم، چې چاڅکه له دې خوبه رابیدار کړم
د لیدلو سترګو خوب و، ځکه دېرېږي ناقرار کړم
چې په زړه کې مې اور بل شو، نو له سوځېدو ناچار کړم
بیا له غمه یې مجبور، په ویلو د اشعار کړم
زیاتې بس که، ای رځوره! څه غمناکه دې ویناوه
عجیبه شان ته حالت و، راته هر څه معما وه

۱۳۶۱،۶،۷

نوم بښود:

(۱) زموږ خپل کور، چې د «بله یالی» له اووه وارو کلیو څخه جلا د یکو وڼو د عمومي سړک پر غاړه «سید وده» نومي ځای کې و.

(۲) د سیمې د یو کلي نوم دی.

(۳) هغه دېره، چې د «لوی کلي» د روزګرانو (بخارانو) به پکې کار کاوه او تر له ورځ به پکې، د کلي کروندګرو ګڼه ـګونه جوړه کړې وه.

(۴) د «لوی کلي» د یو بخار نوم و.

(۵) دا هم یو بخار و.

(٦) آهنګر (پښن)، چې په عامه اولسي لهجه ورته اینګر هم ویل کیږي.

(۷) د «لوی کلي» یو دوکاندار و .

(۸) دا هم یو دوکاندار و .

(۹) هغه ځای، چې بنځو به، ترې د څښلو اوبه وړلې «جر» ته پښتانه په عام ډول «کودر» وایي .

(۱۰) د «بډیالی» لوی کلي ته ورځرمه، یوه لویه دېره وه .

(۱۱) د «لوی کلي» یو اوسیدونکی و، چې ټوله ورځ به د سیمې له ځوانانو سره، په دغه «ملایانو دېره» کې ناست و .

(۱۲) د «لوی کلي» یو ځوان طبیعته بنووینکی و، چې د سیمې د ټول اولس، په درد او غم کې یې ځان شریک ګاڼه . او په ټوله منطقه کې، د پوره شهرت څښتن و .

(۱۳) دا یوه دېره پخوانۍ رنګه شوې قلا ده، چې ورسره څرمه میدان کې به هر مازیګر، د سیمې ځوانانو والیبال کاوه .

(۱۴) له «لوی کلي» سره نژدې، یوه وړه بانډه وه، چې څو کورونه پکې اوسیدل .

(۱۵) د یو کلي نوم دی، چې د «لوی کلي» ختیځ خواته، د غره په لمن کې پروت دی .

(۱۶) د «کنډرو» کلي ته نژدې یوه دېره وه .

(۱۷) د «کنډرو» کلي، یو اوسیدونکی و، اصلي نوم یې خیرمحمد و، خو خلکو به، له ګرانښته، «خیرو» باله .

(۱۸) دا هم د «کنډرو» اوسیدونکی و .

(۱۹) دا هم د «کنډرو» د کلي اوسیدونکی و، چې ډېر شوقي

ځوان طبیعته او خوش خویه زلمی و .

(۲۰) د «لوی کلي» او «کنډرو» ترمنځ، یوه لویه بنسېرانه او سمسوره کرونده وه .

(۲۱) د یو کلي نوم دی .

(۲۲) دا هم د سیمې، د یو کلي نوم دی .

(۲۳) د «برکلي» یو دوکاندار و ؛ اصلي نوم یې «سید عزیز» و ، خلکو به «سیدایز» باله .

(۲۴) دا هم، د «برکلي» یو دوکاندار و .

(۲۵) د یو کلي نوم دی .

(۲۶) د اوو وارو کلیو ګډه جلا ، د غره په لمن کې یو ځای و ، چې په اوړي کې به یې، لوی یخ سیوری او په ژمي کې یې بنه پټاوی درلود، او د ټولو کلیو ځوانان به د ساعت تېرۍ له پاره، دغه ځای ته راتلل .

(۲۷) یو خاص ډول سیمه ایز (محلي) ورزش دی .

(۲۸) دا هم یو ډول خاصه محلي لوبه ده .

(۲۹) دا هم یو ډول خاصه محلي لوبه ده ، چې د اجراء له مخې د ولیبال سره، پوره توپیر لري .

(۳۰) دا هم یو ډول مخصوصه لوبه ده، چې لوبغاړي یې عموماً ماشومان وي .

پسرلی

پته وپره

د اوږدو لارو د ستومانه لاروي، هغه ورځ بيا څه قدر ساه جوړه شوې وه، چې لارښود ورته ويلي وو: كه ژوندي و، نن به تر تيارو او كه مو خداى ورځ نه وه كړځولې شپه به د پاكستان په خاوره كې راپاندې راشي.

بهير په رنده لار پته خوله لار وهله، خروبو، آسونو او كچرو د غره په ځيرو تيږو كې، په احتياط پلونه اخيستل د مني موسم و، د ځابنت لمر بنه لګيد، خصوصاً پر دوى چې تر واوريننو غرونو راووښتي او سرې دښتې يې راوهلې وې.

ماشومانو به د بهير سکوت ماتاوه او هر دم به يې پوښتنې كولې، چې پاكستان ته څومره لار پاته ده؟ . . .

لارښود ورته ويل: هاغه ځانګ كمر وينئ، چې تر هغه به خير راوګرځو، ځانګ ورته د پاكستان ځوكۍ ده، نو كه خداى كول، يو- يو نيم ساعت وروسته به تر پولې ورواوښتي يو.

شل - پنځه ویشت ورځې پرله پسې، په هسکو - ټیټو له یو عالم اندېښنو سره، خوفناله مزلونه، ستومانوونکي وي، دوی هم که واړه وو - که زاړه، د درستو سملاسي آرزو دا وه، چې تر ټوک واوړي او د آرام خوب وکړای شي، خو یواځې یوه سپین سرې ابۍ، چې « خاله یولدوز » یې بلله، د مزله په لنډېدلو، پرېشانه کېدله، چې څومره به سرحد ته ورنږدې کېدل، د دې اوښکې اسوېلي به ډېرېدل.

خاله یې راپېښلو ته هم په ډېر تکلیف تیاره کړې وه، د دې هرڅه منل، خو لېښلو ته، نه وه جوړه، له دې سره، یوه پټه واهمه منګرې وه، چې یوه شیبه یې هم د دې له زړه او ذهن څخه لاس نه اخیست، د نورو په تقاضا مجبوره شوه، چې راروانه شي، خو چې څومره به، سرحد ته رانږدې کېدله، د دې ناکراري به هغومره زیاتیدله.

په هغه ورځ لا په خره وره، د دې ګرېوان په اوښکو لوند و، چې د لاربنود خبرې یې واورېدې، په چیغو سر شوه.

لاربنود ورته وویل: ګوره ابۍ! زړې مېنې او زړې مینې پرېښودل او ورته شاکول، په رښتیا چې ډېر زوروغواړي، خو د وحشي دښمن، په سره اور کې درېدل اوسرو کفارو ته ځان سپارل هم، د ملنډو خبرې نه دي، مجبوریت په سرې هرڅه منې، د شکر ځای دی، چې خدای پاك په خیر راوایستلو او اوس به که خیر وي ژر د پاکستان پولې ته ورواوړو....

خو، د خاله په سوي زړه به، د تسلۍ خبرو نور هم اور بل کړ او چيغې به يې، په زوره شوې.

په دې واره بهير کې، تولې-تال، پنځه-شپږ کوره د کندن د ولايت «اوزبکان» وو، چې ډېرو بمبارۍ او زياتو ځاني او مالي تلفاتو، لېږد ته اړ کړي وو، کوروټه، کلي، کروندې، خپل خپلوان او ډېر نوي اوزاره مړي يې شاته پرې ايښي، د خدای په اسره راوتلي وو.

په دوی کې «صرف يو سړی، څو ځله تر ټلک اوښتی راوښتی و، چې نن يې، دوی ته، لار ښووله او دوی د هغه په پله، پلونه پدول، نور درسته، نابلده وو او دا يې لومړي وار و، چې دا لار يې وهله او د لومړي ځل د پاره يې سترګې، په نااشنا مېکونو لګېدې.

«بابه تيمور» چې د کډو مشر و، د آس په سوارلۍ څه

شیبه څیر-څیر، د هغه کمره په خوا کتل، کوم چې لاربنود د هغه څانګ، د پاکستان څوکۍ یاد وله. کله چې کمزوري نظر یې کمر ولیدای شو، بې اختیاره یې وویل: ښکاریږي، چې یوستاع وروسته به د دوه‌یم ځل دپاره، د روسانو له ظلمه جلاوطن یو او بیا به مهاجر بلل کېږو؛ مګر موږ یې عزت او جلاوطنۍ ته پیدا کړي یو.

د دې خبرې اوریدو، بیا د «خاله یولدوز» د زړه په اور پټرول وښندل، چیغې او سورې یې نورې هم اوچتې شوې. له آسه یې دکوزیدو اراده وکړه او وې ویل: نه-نه، زه نه-ځم، تاسې مې په خدای سپارلې یاست، ما پرېږدئ، چې دلته د دغو تورو سرو او ځیږو تیږو په خوا کې ساه ورکړم.

چې دا یې وویل له آسه راکوزه شوه او د لارې خواته وغزیده.

چې هرڅه نورو ورته زارۍ-جګې وکړې، دا نه پاڅیدله آواز یې ورو-ورو ټیټیده او سلګۍ یې ورسره لنډیدلې، ژبه یې ګنګوسه شوه، په دې هرڅه یې خوله نه پوهیدل، صرف د «آمو» «روسانو» او ځینو اشخاصو نومونه به یې، چې اخیستل، قابل فهم وو.

لاربنود وویل: اوس خو له خیره د امن پولې ته راورسیدلي په ابه ولې داسې شوک راغی ؟!

بابه تیمور وویل: که د دې په ځای هرڅوك وای د غه حال به یې و، تخمیناً نیمه پېړۍ پخوا، چې موږ دا شان د دغه ملحد او ظالم غلیم له لاسه د «آمو» پر هغه غاړه خپل

پلارني وطن، خپلو مړو- ژوندو او هرڅه ته شا کړه، دا یوه اته کلنه - نهه کلنه نجلۍ وه، چې د مور- پلار، دوو ورونو او دوو خويندو سره راوخوځېدل، چې کله د شپې په چوپه-چوپتیا کې د تړلو لرګو د پاسه په «آمو» راپورې وتلو، د روسانو ګزمې د سین په منځ کې، بارونه ورباندې وچلول، چې په لس ګونو لوی- واړه ولګېدل او د تل دپاره د «آمو» خړو لاندې کړل.

د دوی له کاله صرف یوه دا ژوندۍ پاته شوه، اوس چې یې بیا د سرحد نوم واورېد، بنایي هغه په وینو لړلې او وېروونکي صحنه به یې بیا تر سترګو- سترګو کېږي.

لاربنود وویل: اوس خو له «آمو» ډېر لیرې یو.

بابه وویل: که له «آمو» لیرې یو- له روسانو خو به لیرې نه یو؛ که هغه ځل تر سین پورې وتلو- دا ځل تر غره اوړو.

ورو- ورو د «خاله» بڼه بدلېده، آواز یې کېناست او سپین ځګ یې په شونډو پرېووت. نورو ښځو یې چا پښې او لاسونه ور موښل، چا یې مخ ته اوبه ورښندلې، چا کلیمې ویلې.

بهیر د سرحد په نیم کیلومترۍ کې درېدلی و؛ په «خاله» لکه چې د زړه زوروره حمله راغلې وه، خو ملته ورو سته یې ساه ور کړه، خو دوه‌یم ځل غربت ته یې، تن ورنکړای شو.

پردېس

وردګ - دخوات دره

زويــه !

تادي خداى جل جلاله راته ســاتي

مـامور نعيم، چې کله خپله وظيفه پرېښوده، خپلې سيمې ته ولاړ، خو هلته يې له يوې خوا مالي وضعه ډېره خرابه وه او د کور نهه- لس سره ماشومان او نورسرې يې په اوږو بار وې او بل يې له اوښې کانو سره چندان طبعه نه لګيده، څو شپې يې لا نه وې تېرې کړې، چې يو د بل جاغې يې سره وشکولې، نو له ځان سره يې وويل، چې؛ « ياره له وږلې وروره نه پرې ايښى ګومل ښـه دهٔ». نبغه يې د پاکستان لاره ونيوه او پېښور ته ولاړ.

پوره درې کاله يې د لته وار وړل، که به يې کله کور او کلى ورپه ياد شو، نو سلاسي به يې د بوډا پلار پرېشانيو او شليدليو جامو ته پام وا ړاوه، که هرڅو د کور له جدايۍ نه ځوريده، په ځان يې نه وروره

تفســـــیری ازآیات قرآن حکیم

بسم الله الرحمن الرحیم

فهل

ینظرون الا الساعة ان تاتیهم بغتة فقد جاء اشراطها فانی لهم

اذا جاءتهم ذکرهم ه

(سوره محمد : -۱۸)

« پس آیا منتظر اند (بچیزی) جز قیامت (منتظر نیستند مگر قیامت را)

که فرا رسد به ایشان ناگهانی، حقیقتاً که امده است علاماتش ، انگاه

که قیامت به حال شان فرا رسد کجا باشد پند پذیری آنان »

بعد از بررسی انجام و فرجام مؤمن و کافر در رابطه با روندی

که دنبال میکنند و سیاستی که اعمال میدارند و پس از توصل باین

همه بشارت و زندار ، وعد و وعید ، واقامه دلایل و ، اگر

عناصر کافر از روند اعراض شان بر نگردند و پند نه پذیرند

يو کال خوېي هسې د کار په پيدا کولو پسې سرګردانه تېرکړ بخت به ياري نه ورسره کوله، کار به نه ورته پيدا کيده، په هر صورت، دا د مايوسۍ دوران يې هم دومره اوږد نه شو، يو کال وروسته، د مجاهدينو په يوه د فترکې د مامور په صفت مقرر شـــو.

د مامور نعيم هم د کار سره اعصاب، لږ څــه آرام شول او په خپل کار مشغول شو، که به له وطنه څوک نوي راغلل، دى به ورغى او د خپل کور د جوړ ناجوړ احوال به يې ترې واخيست.

هغه د يوې غريبې او بېوزلې کورنۍ غړى و، چې د ژوند ترخو شرايطو او ناخوالو ډېر ځورولى و، په وطن کې يې، چې څه مځکه درلوده، هغه يې هم ډېر پخوا پلار ګرو کړې وه او پلار به يې تل د بل په مزدورۍ کې يوه ګوله وچه مړۍ ترلاسه او ګوزاره به يې ورباندې کوله.

مامورنعيم ته به د خپلې کورنۍ د تنګسې ژوند نبغ سترګو ته ولاړ و او يوه لحظه به يې هم آرام ته نه پرېښود، هغه وخت به ور په ياد شو، چې له دولسم ټولګي نه وروسته په کار پسې ګرځېده دوه-درې کاله بې کاره او کسبه، يوه او بله خوا نستومانه و، د ډېرو وزارتونو او دفترونو دروازې يې وټکولې، خو هغه غريب واسطې او پيسې نه لرلې، نا اميده به ترې ستون شو، او کله يې چې ماموريت پيدا کړ، د مور او پلار بې حده خوښي به يې په سترګو ورغله او دغه چورتونو به لا وځوراوه.

هغه شيبه هم ور په ياد شوه، چې خپله لوړونه تنخوا يې کور ته وړې وه او پلار ته يې پيسې ورشمېرلې، مور يې د لږ څه آرا مې راتلونکې په اميد ورته ويلي وو، چې: «زويه! تا دې خدای راته ساتي، کوندې ستا په مټو له دې بدې ورځې خلاص شو».

خو، څو يې، د مور خيالي خوبونه رښتيا کېدل، وطن د اسلام او عقيدې د ښمنانو لاندې کړ. مامور نعيم خو ترڅه وخته پورې د خپلې غريبۍ په وجه، يو غوږ لمځۍ کړ او بل برېښتن. خو آخر د «خلقيانو» له لاسه د وظيفې پرېښودلو ته مجبور شو.

ما به کله ناکله ليده او حال احوال به يې راکاوه، يوه ورځ په «کچه کړه» کې سره مخامخ شو او د کور- کهول د احوال پوښتنه مې ځني وکړه، راته يې وويل:

«والله د خدای فضل دی، ښه دی، کله ناکله، چې له وطنه څوک راشي، اوال- موال يې راوړي. څو ورځې مخکې مې ورور هم راغلی و، زموږ خو وضعه تاته مالومه ده، چې ډېره خرابه ده، زه هم دا درې کاله کوڅه نه يم تللی، ډېره مې سودا ده، کله وړ خوبونه وينم، خدای دې خير پېښ کړي، سږکال مې زړه دی له خيره يو وار ولاړ شم، اولاد خو پرېږده، مور او پلار مې ننغ سترګو ته ولاړ وي، مور مې ورور ته هم ويلي وو، چې ورته وايه: راځه، د تولو يادېږې، روزي رسان خدای دی، بيا به بېرته ولاړ شې» ــــ

ــــ بل که رښتيا رابانده وايې، نور دلته ډېر په تنګ شوی يم ځان هم بد راته ښکاري، خدای پاك روغ بدن راکړی، خو تر اوسه

مې د دین او د وطن له بنسټونو سره په جګړه او جهاد کې برخه نه ده اخیستې
ځم، هلته به څه خوارۍ غریبي هم کوم او له مجاهدینو سره مرسته
هم. مامور نعیم سربښکته اچولی و، سوړ اسویلی یې وکېښ، او
خبرو ته یې دوام ورکړ: هې- هې، دا هم د خدای رضا ده، سره
له دې، چې د جهاد او سنګر سره ډېره مینه لرم، خو له بدې
ورځې ترینه تره محروم یم.
زه چې د هغه د ترخه ژواندنه له ټولو ستونزو نه خبر وم
نور مې ځان پرې ډکه نه کړ، خدای پاماني مې ترې واخیسته او روان
شوم.
څه موده وروسته مامور نعیم پوښتنې کوي، که کوم ګروپ
د غزا په نیت د وطن په لور روانیږي، ورسره ملګری به شي، خو
کله چې یو ګروپ هم تیار نه و، نو له خپل ورور او شلور پنځو
تنو نورو کلیوالو سره یې د «دوبندی» په لاره وطن ته د تلو
قصد وکړ، د کور غړو ته یې سوغاتونه واخیستل، دوه- درې
ورځې یې په لاره کې هم د مجاهدو د کوم ګروپ انتظار کاوه، خو له
دې امله، چې درې کاله له خپل کور نه مسافر و، نو یې د تمګیدو
توان نه و او پر غرونو ور واوښت، پر لارو به یې له خپل ورور نه
په وار- وار د کور- کلي پوښتنې کولې، چې: ګوره! ادې بنه وه؟ لالا
څنګه و؟ زامن خو به مې ژوندي وي؟ او نور...
په دې ډول یې په خبرو- خبرو لاره لنډوله، له دوه شپو منزل
نه وروسته «دوبندی» ته ورسیدل او د «آوچکان» په ډاګ کې

یې د «ختوکلي» لاره ونیوله ، نیمه شپه ستړي ـ ستومانه د «ختوکلي» ته ورسیدل ، مامور نعیم خپلو ملګریو او ورور ته مخ ورواړاوه او ویې ویل : دا دی راورسیدو ! د کلي په پای کې به دمه جوړه کړو ، نور نو که خدای؟ کول ، زموږ آخري منزل دی ، یو ـ دوه ساته پس به .... خو په هدې وخت کې د کلي له بامونو او شاوخوا نه د ماشینګنو او ټوپکو کړسهار د مامور نعیم خبرې ورغوڅې کړې د مرمیو باران پرې جوړ شو او دواړه ورونه په خپلو وینو کې پرېوتل .

مامور نعیم ریښتیا ویل ، د «ختوکلی» یې د ستومانه منزل پای و او نوره لاره یې په موټر او کټونو کې تر کوره پوره وهلې وه او په ابدې خوب ویده و .

د پکتیا د خونړي جنګ تر تاثر لاندې

لکه څنګه ترمې ـ ترمې تالبنکر د ابرهه کړو
په نرو نرو چکو کانو د وره مرغود لاسه

دا سې ختم کړې ای خدایه دا د روس ظالم قوت هم
د افغان په پاکه ځمکه ، د افغان بچو د لاسه

قمرالزمان قمر ـ طائزی

نوید

... او له لاسه يې غوټه پرېوته !

تېر ژمی واوره ونه ورېده ، يواځې دوه - درې ځله
معمولي پرخ وشو ؛ خلکو ويل: خدای دې خير پېښ نوي که
پسرلی هم بارانونه ونه اوري ، کرلي فصلونه به د وچوبي له لاسه
له يوې مخې وسوځي . د وچکالۍ وېرې لا هغه وخت د خلکو په زړونو
وېره اچولې وه ، خلکو ته د تېرو کلونو د وچکالۍ نه را ولاړې
تراژيدۍ ياد وې ، هغه وخت خو بيا هم ښه و ، وطن آزاد و
لارې پرانستې وې ، حکومت هم څه لږ او ډېر ځان ښوراوه . خو
بيا هم په لسګونو هېوادوال د هغې وچکالۍ او قحطۍ قرباني شول .

پروسږني حاصلات هم په درمند ځايونو کې تر ډېره حده
د روسي عسکرو د حملو په جريان کې سوځول شوي وو ، شنه فصلونه
د ټانکونو تر پولادي زنځيرو لاندې پر بل مخ اوښتي ، پوله له
پټي او پټي يو له بله سره ګډ شوي وو .

لارې بندې دي ، ټول هېواد له ورانۍ - ورانۍ سره مخ دی

په داسې سختو حالاتو کې له وچکالۍ او قحطۍ سره مقابله څه اسانه نه ده ؛ يواځې وچکالي نه، د ناروغۍ او ساري رنځونو پيدا کيدل هم دي .

پسرلی هم د آسمان خوله چوله نه شوه ، کله-کله به پر آسمان نري وريځ راپره شوه ، د خلکو سترګې به څه وغړيدې، خو ډېر ژر به يې د آسمان له شنه سمندر نه، په لامبو- لامبو ځان وايست.

خلکو ختمونه وکړل، په خيراتونو او دوعاګانو يې ځانونه ستړي کړل ، خو د آسمان زړه نرم نه شو ، د پسرلي په دوهمه مياشت د چينو او خوړو اوبه دومره کمې او بنکته شوې،چې خلک مجبور شول، شنه فصلونه همداسې شنه وريبي .

وياله او لښتي خو د وخته وچ شوي وو ، د کلي د برې چينې اوبه هم دومره لږې شوې وې، چې کليوال به د څښاک اوبو ورلو ته په نوبت ولاړ وو ؛ سپين ږيرو ويل ، چې زموږ نه ياديږي چې د دغه چينې اوبه دومره کمې شوې وي .

له بلې خوا څارويو د خلکو ستونزې يو په لسه کړې وې د څارويو له پاره د شنو او پروړې پيدا کيدل تر اوړو او ډوډۍ ډېر سخت وو .

په دغه زړه بوږنوونکو او ترخو حالاتو کې د « اميرګل» په کور تر ټولو زياته تياره او تروږمۍ خوره وه ؛ اميرګل مجاهد دی ، چې د تره او خپل کور ګرده سرپرستي د هغه په غاړه ده . د اميرګل ژوند دی او سر او کال مزدوري ، په هغه پورې مزدوري

داسې نښتې وه، لکه چې په هغه یې څه قرض وي.

پخوا به یې د کال نهه میاشتې مزدوري وکړه، چې د کال مزدوري په نامه یادیږي، چې نهه میاشتې پس به یې دانې- غنم اوړه او کندو ته واچول، نو څو پټیرې به یې له یوجوړ جامو سره په شا وتړلې، کور - کلی او سیمه به یې شاته کړه یا به یې په "کوټه" او "دوکۍ" کې د ډبرو د سکرو په کانونو کې د ځمکې زړه څیراوه او "کوله" به یې وهله او یا به یې په "تیرا" کې د سختې کاګرۍ او تیږو کوهي کښنستل، پسرلی به چې واورې ویلې کیدې، نو "امیرګل" به بنایسته دومره څه ګټلي وو، چې د چای غوړیو، ګوړې، روغ او ځغوړ څه چاره پرې کیده او لا دمه به یې نه وه جوړه، بیا به یې له چا سره د کال په مزدورۍ دوعا کړې وه.

هغه وخت بیا هم ښه و، پلار یې ژوندی او زړه یې پرې تکیه وه، ژمی به یې په بې غمه زړه د لیرې سیمو مزدورۍ ته غیږ خلاصه کړه.

اوس یې چې پلار په بمبارۍ کې شهید او کور یې وران شو، "امیرګل" ته حالاتو په پښو کې زولنې واچولې، د کلي-کور بندي شو، د "کوټې" او "تیرا" مزدورۍ ترې پاته شوې.

سږ کال د وچکالۍ له لاسه خلکو خپل کښتونه شنه لو کړل، د کال مزدوران په ډالۍ پاته شول.

امیرګل به کله - کله چیرته لیرې-نژدې روزمزدوري

درک کړه، چې هغه به هم زیاتره بریځړ نه ه. لس بجې د قوې د راتلو آوازه خپره شوه، «امیرګل» به هم له دوړو او ختو جامې وڅنډلې کلاشینکوف به یې اوږې ته کړ او په یوه منډه به مرکز ته رسیدلی و؛ د غه آوازې به معمولاً ناسمې وختې او په «امیرګل» به د ټولې ورځې مزدورې ګوډه شوه.

«امیرګل» ته خدای عجیبه ډاډ او حوصله ورلورولې وه، په هغه د ژوند ناخوالو او خوارېو، لوږو او ربړو هیڅ ناوړه اغېزه نه وه کړې، هره سختي او هر تکلیف به یې په سړه سینه او بشپړ صبر او ثبات تېراوه او داسې یې د ژوند هره تنګسه د خپلې اوږې د غنیمتي کلاشینکوف په مینه، د جهاد په جذبه، د ایمان په شور او ولوله په بېباکه ډاډ او حوصله تېروله.

خو د سږنې کال هره ګړۍ په «امیرګل» خورا سخته او ستغه تېریده؛ داسې نه و، چې «امیرګل» له خوارۍ او مزدورۍ اوبه ایستله. قدرت «امیرګل» ته غښتلی وجود ورکړی و، لکه چې هم داسې مزدوریو او سختیو ته جوړ شوی وي.

خبره دا ده، چې سږنۍ قحطۍ او وچکالۍ ښتمن له اخ او توخه غورځولي وو، نو د «امیرګل» به څه حال و.

«امیرګل» ته کور د خپل اولاد د لوږې او بدې ورځې له لاسه تیار دوزخ و، ډېر لاس او پښې یې وخوځولې، خو داسې څه نه وو، چې د هغه سوې ورځ پرې ښه شي.

هغه نن وختي له کوره ووت، پرون ورته چا د لوړ کلي

د «سدوزي» سره د تېرکال د وچو «توتو» څه درک ورکړی و که څه هم «امیرګل» تر یې لومړی لاس مینځلي غوندې و ، ځکه پیسې نه وې او مزدور اوس د چالګیده نه ، خو ارتیا بد شی ده «امیرګل» عمرونه ـ عمرونه مزدوري کړې وې ، په غرو کې یې لوی ـ لوی کمرونه مات کړي وو ، د ځکې له زړه یې تور سکاره ایستلي وو ، په شا یې لوی ـ لوی ګټونه او وځونه راوړي وو ، خو سوال یې نه و کړی ، هغه ته سوال ډېر سخت ښکاریده ، خو نن مجبور و ، پښو یې سستي کوله ، سم قدم یې نه شو اخیستی ځان ډېر ملامت ورته ښکاریده ، ځان ته یې ډېره غوسه کیده او کرکه ورتله ، کله به یې پښه ونیوه ، فیصله به یې وکړه چې له دې کاره تېر شي ، خو د بچیانو له هیلو او اسرو ډکې سترګې وچې شوندې او سپېره مخونه به یې له سترګو تېر او بېر شول او دغه تصور به بیا مخ په وړاندې تېل واهه . په همدغه کشمکش کې امیرګل «لوړ کلي» ته ورسید ، نیم من د «توتو» میدګې یې په زاړه څادر کې راغوټه کړل .

د لمر سترګې د شنه او صفا آسمان څنډو ته په تېزۍ لنګر اچولی و او د دغې ظالمې او خونړۍ دنیا د ننداري له دوکه تکه سره اوښتې وه ، وړانګې یې ورټولې کړې وې ، داسې لکه ، چې په وینو کې غوټه شوې وي ، د ځکې د مخ د رواني فاجعې انعکاس ځلاوه .

امیرګل له کلي نه و راوتلی ، چې د جیټ الوتکو کړسهار د هغه د چورتونو او اندېښنو مزي وشلول او لا څو قدمه یې نه و

اخیستي، چې کونړ درزهار شو، هغه توري دوړې ولیدې، چې د آسمان لور ته ختلې، په زړه کې څه وګرځېدل، خو ژر یې له ځان سره خدای مه کړه ووییل، ګرېندی شو، لږ وړاندې یې په روغه لاره پښه واوښته، پړځې ولوید، د څادر پیڅکه تري پرېوته، لږ میدګی توی شوه، خو «امیرګل» ژر له خاورو سره راټوله کړه، راروان شو په زړه کې یې بل وړ خبرې ګرځېدې، هغه که هرڅو ځان له د غه خیالاتو او اندېښنو ژغوره، خو ند کېده چې کلي ته نژدې شو، دوړې لا پوره نه وې ناستې، نور یې هم قدمونه چټک کړل، منډه یې کړه، وړاندې د وولس کټونه ایښي وو، له وچولي یې د یخو خولو څاڅکي له اوښکو سره یوځای څڅېدل زړه یې داسې په شدت ټوپونه وهل، لکه چې د سینې د صندوقچې د باندې راوځي او خپل چاودلی او خوږین صورت ښیي، له لاسه یې د میدګی غوټه پرېوته، ښغ په هغه کټ وغورځېد، چې څلورکلن زوی «ځونډی» له خپلې خور سره یوځای په وینو لت ـ پت پروت و.

که تره کی، که ببرک دی که امین دی
ټول کافر دي زموږ پوخ په دې یقین دی

نوبه ځکه اوس په یوه نعره جهاد کړو
د مشرانو په فتوی زموږ آمین دی

«بارکزی»

پیداست که طریق دیگری برای رهنمائی وهدایت آنان سراغ نمیشود مگراینکه رستاخیز فرا رسد ولی بافرا رسیدن رستاخیز راه های بازگشت یکسره مسدود میگردد ودرآنصورت توسل به رهنمودها وتجدید عهد سودی ندارد انانکه دعوت پیامبران را باین دلیل تکذیب نمودند که اعتقاد به آخرت برای آنان دشوار بوده نمی توانستند باور کنند که بالاخره روزی برای محاسبهٔ همه گذشته های گندآلود خویش به بارگاه محاکمهٔ الهی حضور خواهند یافت وپاداش اعمال شانرا خواهند چشید چون بطور ناگهانی باحادثهٔ هولناک رستاخیز مواجه شوند وهمه آنچه را در دعوت پیامبران شنیده اند بطور مشهود ومحسوس درجلوخود بیابند از مواقف ناجاییکه بنا بر عدم اعتقاد (باین روز) اتخاذ کرده اند پشیمان ونادم گردیده در پی جبران آن میشوند وبه تضرع می پردازند ولی این تضرع وزاری کاملاً بعد از وقت بوده سودی نمیدهد قرآن مجید می فرماید :

وجایٔ یومئذ بجهنم یومئذ یتذکر الانسان وانی له الذکری.

(سورة الفجر، ۲۴)

«وآن روز جهنم احضار شود روزیکه آدمی پند می پذیرد ولی کجا باشد اورا (نفعی ازین تذکار.)

حالت عناصر کافر را در اثنای تلاقی با عذاب الهی چنین توضیح می فرماید :

ربنا اکشف عنا العذاب انا مؤمنون ٥ انی لهم الذکری وقد

سرې شپې او تودې وينې

لاندې به تاسو د کابل ښار، د مجاهدينو، د يوې وارې ګروپ، د جهاد، د يوې ښېښي راپورتاژ ولولئ، چې زه يې، د دې ګروپ، د يو غړي ډاکتر احسان الله سمولي يکيم اخو د دوی د ملګرو نوموونه او د اوسيدو ځای، ځکه نه ښايم، چې دا ګروپ، اوس هم په کابل کې، جهاد کوي او معرفي کول يې، له خطره خالي نه دي.
«ساهو»

«ستا د سترګو بلا واخلم، بيا دې سترګې ولې سرې دي؟
پام کړه وار دې خطا نه شي، ما مثلې غرغرې دي»

دا سندره زموږ او ارتباطي عسکر ترمنځ شفر وه. عسکر احوال راکړی و، چې نن به د شپې مهال پهره يم او بريڼه سندره

به وایم، تاسو به د هغې په اورېدو سره زما د پیرۍ په نوبت مطمئن شئ او په ټاکلې دروازه به راننوځئ.

په دې شپه کې سخته یخني وه. د دلوې د میاشتې اوله هفته وه او د افغانستان زړه (کابل) په سپینو واورو پوښلی و. په ژمي د کابل اکثره مجاهدین تودو سیمو ته لېږدي، خو موږ پاتې شو او ساړه سنګرونه مو تاوده وساتل.

د شپې به ممکن لس بجې وې چې د هدف په لور وخوځېدو. زموږ له درو تنو ملګرو سره کلاشینکوفونه وو، د یوه وروړ راکټ په اوږه و او یو هم د راکټچي معاون و. د شپږم ملګري وظیفه دا وه، چې د ټینک له سره به «پیکا» (یو ډول ماشیندار دی، چې عموماً په ټینکونو نصب وي) راخلاصوي، نو ځکه د هغه سره د وسلې په ځای سکرینج او پلاس وو. زموږ شپږ کسیز ټولي په ډېره تلوسه د کابل ګمرک د پوستې په لوري رهي و، خو د واورې ډېرښت دې ته نه پرېښودلو، چې ګامونه چټک کړو.

څه باندې یوولس بجې د کابل په سین کې شو. د اوبو د بند لاندې اوبه کمې وې او سینډني کاڼي رابښکارېدل، په کنګل شویو کاڼو مو څو-څو ځلې پښې وښویېدلې او د راوتلو په وخت کې ټول سره لانده-خیشته وو.

له دې ځایه د «کابل بای» کلي ته ولاړو. د «کابل بای» او ګمرک ترمنځ فاصله ډېره لنډه ده، خو د النګ واټن باید په اوار ډاګ کې ووهل شي او ډېره ممکنه ده، چې د ښمن د ګمرک

له برجونو ورېني .

موږ د «پروت» په شکل له دې ډاګه تېر او د کابل-جلال آباد سړك سره د يو پلګي سيوري ته غلي شو . د سړك بلې غاړې ته د کمرك قلا وه . موږ د سنګرې د اوريدو انتظار کاوه . د ژمي د سړې شپې سکوت په يوازې هغه نظامي موټرونو ماتاوه، چې د پلچرخي محبس او زنځيرو والو په لوريه تلل او يا به له هغو خوا د ښار لوري ته راتلل . شپه يخيده او يخني ډېريده . دوه- درې ساعته د لته ناست وو ، خو موعود آواز رانغی ؛ پښلي مهال د بېرته ستنيدو په فکر کې شو.

د راتلك په وخت کې موږ ډېر ونه ساړه او ګامونه درانه وو . هغه شپه رابانده په فکرونو او انديښنو سبا شوه . سبا ته سره پوه شو چې زموږ تر رسيدو د مخه لا د ارتباطي عسکر د پېرې نېټه پوره شوې وه . راتلونکې شپه موږ بيا وعده سره کېښوده.

داخل نسبتاً وخته رهي شو . دا شپه تر تېرې شپې هم سړه وه . د کابل سين ته د تېريدو په وخت زموږ راکټ چي ، د هغه معاون او خلع سلاح ملکري مخې ته ورغی . زه د درياب په غاړه کې وم او د ګروپ قوماندان له يو بل ورور سره زما سا ته راروان ول چې ناڅاپه مې ډزې واوريدې . ډزې په موږ باندې کېدلې . ما په اوبو کې ځان وا چاوه او بني لاس ته وخوځيدم . بني لاس ته په څو متره کې د بند د اوبو شرشري وې - د بند د ديوال او د اوبو د شرشرې ترمنځ څه خلا وې - ما ځدې

خلا ته ځان ورساوه . ددې ځای کته داوه چې یو خوځیا لیدای نشوای او بله دا چې مرمۍ به د اوبو د لارې راتلی او اوبه طبعاً مرمۍ سړوي او خطر یې کموی . نه د شړشړو لاندې ځای په ځای پاتې نشوم . ما لدې چولې استفاده وکړه او بېرته د سین غاړې ته پورته شوم . هغه دوه ملګرو مې په وچه کې پروت کړي وُ .

دښمن بلې غاړې ته په یوه لوړه کې سنګر نیولی وُ او په دریاب یې بې دریغه مرمۍ وروله . مونږ د نورو ملګرو په برخه کې ډېر اندیښمن وُ او باور مو ته کاوه چې بیا به یې ژوندی ونیسو . زما له راتګه ، پنځلس - شل دقیقې وروسته ډزې کمې شوې . په دې وخت کې مونږ ولیدل چې تر شړشړو لاندې دوه کسه دې لورې ته را روان دی . قوماندان وویل چې دوی زمونږ د نیولو په خیال کېدی . باید ډزې بانددې وکړو . ما وویل لږ صبر پکار دی . کېدای شي چې زمونږ ملګري وي ، قوماندان سر وخوځاوه خوبل ورور وویل چې د هغوی ژوند ته امید پکار دی - کوندی ژوندی وي - خدای پاک خلك په سره اور کې هم ساتي .

هغه دوه کسه نور هم رانژدې شول . یو زمونږ راکټچي اویل یې معاون وُ . دوی یو په مروند لګېدلی وُ او بل په ټټر - له دواړو څخه ویني بهېدلی . مونږ د بلولو پوښتنه ځنې وکړه . دوی ځواب راکړ چې هغه مځکې رهی وُ

شاید شهید شوی وی ، زخمي وروڼه که څه هم ډېر ټوپیل نه معلومېدل خو وینی یې لا نه وی بندې شوې او ورته په چورت کې وُ. له ورک وروره مو لاس وینځلی وُ او په دې فکر کې وُ چې څنګه به یې مړی لاس ته راوړ و .

دښمن وروسته له څه کم یو ساعت نه ډزې بس کړې، په دا دُومره وخت کې موږ یو تک هم نه وُ کړی ، ځکه هغوی په سنګرونو کې پراته وو او مقابله ډېره فایده نه کوله . له شیبه شیبه سکوته وروسته د دښمن له سنګره لس - پنځلس کسه د دریاب خواته راروان شول . هغوی دا فکر کړی وُ چې موږ په اولو ډزو کې لا له منځه تللی یو او اوس یې ممکن غوښتل چې سلاح راټوله کړي . یوه ورور وویل : باید څه وکړو؟ قوماندان وویل: موږ درې باید فیر باندې وکړو او په همدې وخت کې باید زخمي وروڼه ځان شاته وباسي . په دې خبره مو اتفاق وکړ ، موږ ډزې پیل شروع کړل او زخمي وروڼه د شا په خوا وخوځېدل . تقریباً نیم ساعت به مقابله ډزې جارۍ وې . په آخر کې د مرمیو د کمبود له خطره خاطر شو . قوماندان وویل چې زه به دوی تر شدید اور لاندې ونیسم . او تاسې له وخته په استفادې سره عقب نشیني وکړئ .

او هغه بل ورور د سین له غاړې کابو سل متره لرې سنګر ونیو او په دښمن یې ډزې شروع کړې . چې کله د دښمن زموږ خواته متوجه شو - قوماندان د دریاب له غاړې ځان وویست . قوماندان زموږ له سنګره دښمن تر اور لاندې کړ او د قوماندان

تر راتګه مو باندې فیرونه کول .

اوس نو د سین له غاړې دوه - درې سوه متره لرې شوي وو. په دې ځای کې ونې وې او د ونو په منځ کې مو خپلې عقب- نشینۍ ته ادامه ورکړه ، د ورک وروړ او زخمیانو په باره کې ډېر اندېښمن ؤو، یخني ډېره وه او د سپوږمۍ رڼا ته د ونو په څانګو راځړېدلیو کنګلونو داسې ښکار ولړه چې موسم هم د ژمي غونډې بې رحمه دی .

دا ډزې په توله سیمه کې اورېدل شوې وې ، زمونږ خپلوانو کره شپه ویښه تېره کړې وه . زخمیان په خیر را رسېدلي ؤ ، خو کله چې مو ورک وروړ ژوندی ولید ؛ نو له خوشالۍ په جامو کې نه ځاېدو. هغه خپله کیسه داسې راته وکړه: «زه چې څنګه له سینه پورې وتم ، ځان مې څوک سرې په نظر راغی- ما غوښتل خپلو ملګرو ته غږ را واړوم چې فیرونه شروع شول . بله لار نه وه ځان مې ویالې ته واچاوه (د سین د بلې غاړې په زړه پورې ویاله شته چې په هغه وخت کې وچه وه) د غرب خوا ته څو سوه متره په غږ ولاړم . بیا له ویالې راولاړ شوم او د لامبو په واسطه له سینه سینه پورې وتم .

د سحر څلور بجې شوې ، میندو ، پلرونو راته وویل چې د تلاشۍ خطره ډېره دی باید ځان وباسو . زمونږ دوه ملګري خپلو کورونو ته ولاړل . زه ، قوماندان او دوه زخمیان د یو شنا خته عسکر کور ته ورغلو . عسکر په کور نه ؤ . په کور کې یې دوه

کوټې وې. د عسکر میرمنې دا یوه کوټه راخلاصه کړه. زموږ د پاره یې ستوشکونه آوار کړل او له خپلې کوټې یې بخارۍ موږ ته راوړه. زموږ ښځې د یخ په وجه پړسېدلې وې او موفقه نشوې چې بوټونه له پښو وباسو. موږ دلته هم له تلاشۍ وېرېدو د عسکر میرمنې - زېرخانه راوښوده - په زېرخانه کې لرګي وو، ما او قوماندان لرګي کوز پاس کړل او ځانونو ته مو ځایونه جوړ کړل خو بیا هم د پټېدلو د پاره سم ځای نه و. د عسکر میرمنې اجازه راکړې وه چې که هرڅوک تلاشۍ ته راغلل - فیرونه باندې وکړئ - زما او زما د اولادو سوغمو مکوئ.

سبا عسکر کور ته راغی، هغه زخمیانو ته ډاکتر راووست دوه شپې او دوه ورځې په دې کور کې وو. په همدې کور کې ارتباطي عسکر احوال راولېږو چې زه صرف نن شپه لا دلته یم او بیا به بل چېرته ځم، موږ زړه نا زړه شو خو په نتیجه کې د وسلې د موندلو ضرورت تک ته مصمم کړو. د راکټ لپاره دوه نوې وروڼه راسره مله شول. زخمیان مو محفوظو مرکزونو ته راواستول او داخل د خادیستانو د بیا حملې له وېرې په بله لار ولاړو.

له سین نه په لامبو تېروتو. ترڅو چې سرکه په خیر ورسېدو. ماد ګمرک د قلا منځ ته لوټه واچوله (د اخل د ښفر وسیله لوټه وه.) له هغه لوري هم لوټه سمدستي راخطا شوه.

اوس نو زموږ اساسي وظیفه دا وه چې له پاخه سرکه په خیر واوړو او د ګمرک د دیوال سیوري ته ځان ورسوو.

اول د کروپ قوماندان د پروت په حالت کې د قلا د دیوال سیوري ته ورسېد و. کله چې ما د تېرېدا اراده وکړه د کرز جیب راغی. دا جیپ د قلا د دروازې پېره دارانو دریش کړ پېره داران دجیپ له سور لو سره په خبرو لګیا شول، ما له وخته استفاده وکړه له سړکه تېر شوم. موږ په یوه فرعي دروازه (چې عسکر راته خلاصه کړې وه) د ګمرک قلا ته ننوتو. دوه ملکي نور هم راتېر شول او څپاتي دوو وظیفه داوه چې د سړک په غاړه به پاتې ږي د دښمن څارنه به کوي.

موږ څلور سره پوستې ته ننوتو. ارتباطي عسکر په پېره ولاړ و، رهنمایي یې راته شروع کړه.

عسکر راته وویل چې په پوسته کې درې کوټې دي. په یوه کې یو پرچمي سره له دوو تنو عسکرو، په بله کې درې تنه عسکر او په دریمه کوټه کې دوه تنه ظابطان ویده دي.

اول د پرچمي کوټې ته ورننوتو- هغه بې غمه ویده و او سرته یې کلاشینکوف ایښی و- ما یې لغړ نه د برستن څنډه راپورته کړه، راویښ شو. اطمینان مې ورکړ چې موږ څه نه درته وایو- تر سرلاندې ټوپک راکړه - بیا بېرته ویده شه- هغه چاره نه لیده ټوپک یې راکړ. له دوو تنو عسکرو هم کلاشینکوفونه واخېستل له کوټې راووتو او ور مې د باندې لخوا کولپ کړ. د دوهمې خونې عسکر زموږ په راتګ ویښ شوي و، چې څنګه ورغلو، ټوپکونه یې راکړل.

د ظابطانو کوټې ته څکه نه ورغلو چې عسکر راته ویلي وو چې:

هغوی مسلمانان دي او سلاح ورسره نشته - موږ به اوله کې
لا د هغوی د کوټې ور د باندې لخوا کولپ کړی وي .
د ټوپکونو له ټولولو وروسته ټینګ ته ورغلو خو زموږ
ورور نه وُ بریالی شوی چې پیکا را خلاصه کړي - موږ هم
څه کوټې وسپورولې خو فایده یې ونکړه ، مجبور شو په ضابطانو
پسې ورغلو د هغوی د دروازه له د ننه خوا زنځیر شوې وه ، ور
مو وروـ ورو وټکاوه چې موږ یې ولید و حیران پاتې شول
قوماندان په خیره پوه کړل - یوتن ضابط راسره راغی او ډېر
ژر یې راته پیکا خلاصه کړه .
موږ خلع سلاح شوی عسکر د ضابطانو کوټې ته
ور وستل او ورمو پسې کولپ کړه . د پرچمی په برخه کې موږ
ځان ناکاره ایولی وُ ، هغه ته مو وویل چې وروره سلاح
راسره ډېره ده - د ا پیکا به راسره څه لاره نیوسي . په پرچمی مو پیکا
بار کړه او له پوستې راووتو . د سړک په سر د لویې دروازې
پیره دارانو ولیدو - زموږ قوماندان سلام ور واچاوه خو هغوی
له حیرته لکه بتان ځای په ځای ودریدل او ورځ یې ووته .
موږ لا د ((کابل بای)) په کلی نه و ننوتي چې د ښار
او پلچرخي له دواړو خواو د ټینکونو آوازونه راغلل - ټینکونه د ګمرک
مخې ته ودریدل او عسکر ځنې را کوز شول .
موږ په سرعت سره له کلی تیر شو - چې کله د کابل
له سینه پورې وتو - څه ناڅه مطمئن شو او دلته مو پرچمی
(پاتې په ۷۵ مخ کې)

محمد عارف-غروال

د خپلې خوښې عسکري ؟؟؟

«زیارت ګل» د پلار ایکي-یو زوی و، نور ورونه او خوېندې خپلوان یې نه درلودل. پلار یې یوه توټه ځمکه درلوده، چې کله سترې-ستومانه کور ته راستون شو، نو د ټولې ورځې ستوماني به یې د زیارت ګل په لیدلو له منځه ولاړه. زیارت ګل ورو-ورو لوییدو او د پلار یې د ده په لوییدو سره د هیلو او ارزوګانو یوه-یوه غوټه خلاصیدله. مور به یې هم، چې کله-ناکله د ده شونډو ته وکتل، چې تور خط پرې د پیدا کیدو په حال کې دی او نژدې ده، چې پس ځ یې بریت راشي، نو په کالیو کې نه ځاییدله او له ځان سره به یې ویل: «که خدای کول زوی مې ځوان شو او باید د واده غم یې سر له اوسه وخوړل شي. خدایه دا به څومره د خوند ساعت او د خوشالۍ شېبه-ورځې وي، چې منږور مې په کور کې راته ګرځي او د لمسیانو خاونده وم». بیا به یې، چې خپلې غریبۍ او بې وسۍ ته وکتل، نو ټولې هیلې او ارزوګانې

جاءهم رسول مبین ه

(سوره الدخان ۱۲-۱۳)

(گویند ای پروردگار ما- منکشف ساز از ما این عذاب را که ما (بعد ازین) مؤمنیم، چگونه باشد امکان) پند پذیری برای آنان در حالیکه قبلاً (برای تذکار آنان پیامبر مبینی نزدشان آمده بود) و با فرارسیدن عذاب پیوند و تعلق شان را باما سوی الله میبرند و دست دعا و نیازمندی بسوی او دراز میکنند قرآن مجید ازین خصلت عناصر کافر ضمن سوالی پرده برمیدارد:

قل ارئیتکم ان اتکم عذاب الله و اتتکم الساعة اغیر الله تدعون ان کنتم صادقین ه

(سوره الانعام ۴۰)

«بگو آیا دیدید اگر عذاب الهی بیاید و یا ساعت (رستاخیز) به حال، تان فرا رسد آیا بجز خدا (ج) را به کمک (فی طلبید یمن- بگوئید) اگر صادقید.»

منکرین رستاخیز برای توجیه این کارشان به تاجیل در فرا رسیدن عذاب الهی و عدم تحقق عاجل قیامت استناد می ورزند و به احتجاج انکار آمیز می پردازند، که اگر ادعای تحقق رستاخیز حقیقتی دارد و به راستی ستمگران بی ایمان مستحق عذاب الهی بوده بطور حتمی با سرنوشت حتوم عذاب مواجه می شوند چرا قیامت فرا نمی رسید؟ و عذاب موعود فرو نمی ریزد.

به یې په اوبو لاهو وبللې .

زیارت ګل ځوان شو، بیا ورې شو. متې یې قوي او د کار کولو توان یې پیدا کړ. د کلي - مالت په ځوانانو کې یې بنسه نوم وګاټه. له خپل پلار سره به یې مېه کروندو او نورو ورځنیو کارونو کې فعاله برخه درلوده؛ د پلار یې بېځي لاس پرې سپک و. د ی، چې د خپل عمر شل کلنۍ ته ورسید، نو د عسکرۍ د خدمت پچه یې وختله او د عسکرۍ دوه کلنه موده یې په «هرني» کې تېره کړه. چې له عسکرۍ څخه راخلاص شو، نو پلار یې د واده غم ورته وکړ. له واده څخه یې لا دوه کاله نه وو تېر شوي، چې پلار یې د سختې ناروغۍ له امله له فاني نړۍ څخه سترګې پټې کړې او د دنیا ټول غمونه او کورني مسوولیتونه یې زیارت ګل ته پرېښودل؛ دا وخت د دوی د کورنۍ د غړیو شمېر څلورو تنو ته رسیدلو. یعنې یوه یې مور، یوه مېرمن او یوه یې لور وه چې د ده په ګډون ټول څلور تنه کېدل.

شپې - ورځې تېرېدې. زیارت ګل په خپله پلرنۍ محکه کې په ډېره مینه کار کاوه او د کور ګوزاره یې بنسه پرې چلیده. زیارت ګل که څه نړدې خپلوان نه درلودل، خو د ده د بنو اخلاقو او بنې ګوزارې له امله ټول کلیوال او د سیمې خلك د ده لنه ورونه غوندې وو محکه چې په خپل ټول ژوند کې یې چاته سترخه خبره هم نه وه کړې نو له دې امله لویو - وړو په درنه سترګه ورته کتل او ورباندې ګران و.

زیارتګل سربېره پر دې، چې د خپلې مور ډېر قدر او احترام کاوه، له خپلې مېرمنې سره یې هم ډېره مینه درلوده؛ په تېره بیا کله، چې د دوی په کور کې یوه لور او یو زوی پیدا شول نو د دوی ترمنځ د غه مینه او محبت څو برابره زیات شو. او چې کله به تر ناوخته پورې په کروندو کې مصروف پاتې شو، نو مېرمنې به یې د راتلو لاره څارله او مور خو به یې دروازې ته سترګې نیولې وې؛ چې کور ته به راستون شو د خپلې لور او زوی په لیدلو سره به داسې تازه شو، تا به ویل، چې پنځلس کلن ځوان دی.

سږ کال د دوی د مني فصل خدای ج له بد باد او باران څخه ساتلی و او د نورو کلونو په نسبت یې ډېر ښه حاصل ورکړی. خاوند او مېرمنې یې د واړو د فصل په راغونډولو کې ښه ځانونه ستړي کړل، چې ده به لو کاوه- نو هغې به سترې تولولې، چې هغه به درمند باداوه- نو دې به وابنه کور ته رسول. لنډه دا چې د مني د فصل تولول پای ته ورسیدل او دوی ایله سره دمه شول.

زیارتګل، چې لږ څه ساه واخیسته، نو د قلبي په عوایدو یې لاس وواهه ترڅو د راتلونکي فصل غم وکړي، خو ناڅاپه یې مېرمن ناروغه شوه. څو شپې- ورځې خو یې فکر کاوه، چې عادي ناروغي به وي او بېرته له دارو- درمله به جوړه شي، خو ناروغي یې پسې اوږده شوه. شاوخوا چې کوم ابتدایي طبیبان موجود وو، له هغوی څخه یې دارو- درمل ورته راوړل او په دم تلو ...

يې هم صرفه ونه کړه ، مګر څه فايده يې ورته ونه رسوله، ترڅو مور يې ورته وويل : «بچيه ! که "کابل" ته يې بوځې ګوندې خدای يې جوړ کړي ؛ خلک وايي چې په کابل کې ښه - ښه ډاکټران موجود دي». د ده زړه هم غوښتل، چې کابل ته يې بوځي، خو د لور او درې کلن زوی پرېښودل ورته ګران معلوميدل او دا يې هم له لاسه نه وه پوره ، چې لور او زوی له ځانه سره بوځي. ځکه چې لارې خرابې وې، وخت - ناوخت به د حق د لارې د مجاهدينو او روسانو ترمنځ سختې جګړې کيدلې . نو مور ته يې وويل که خوښه دې وي ، بچيان دې تاسره پاتې شي ، مونږ به دوه په- دوه ولاړ شو ؛ ګوندې وي ، چې په کابل کې شپه راباندې راشي. خو که چېرې شپه راباندې راغله، په هر شکل، چې وي يو ځای کې به يې تېره کړو . بله دا چې په لارو کې هم چندان امنيت نه شته.که چېرې له کومې پېښې سره مخامخ کېږو، نو ماشومان خو نه وي راسره . مور يې ورسره ومنله . څه - ناڅه پيسې يې په کور کې درلودې او څه - ناڅه يې له خپل يو کليوال څخه په پور واخيستې . سهار د لمانځه په وخت په لومړي موټر کې له "کټواز" څخه غزني ته راوخوځېدل . په غزني کې يې د خپلې سيمې له يو ملګري څخه پوښتنه وکړه، چې کوم ډاکټر به ښه وي ؟ هغه د "پامير" له سينما سره د ښځو ډاکترې " کريمه" ورته وښودله او پر کاغذ باندې يې د هغې پته ورته وليکله .

دوی چې په " ميرويس ميدان " له موټر څخه ښکته

شول، د ماسپښين دوه بجې به وې او بيا په ښاري سرويس کې د ښار په لور روان شول . د پامير سينما په تم ځای کې له موټر څخه پلي شول . يو چا ته يې کاغذ وښود او د «کريمې» د کتنځي پوښتنه يې ترېنه وکړه . هغه د لاس په اشاره کتنځی وروښود او دوی دواړه ورانددې - وروسته د ډاکټرې د کتنځي وخواته رهې شول ، د مېرمنې يې مخ پټ او پښې لوڅې وې . يعنې پښې يېبلې وه.

پامير سينما ته مخامخ يو زغره وال ټانک ولاړ و، چې سره روسان پرې د پاسه ناست وو او د خلکو څارنه يې کوله . د ټانک په ښي او کيڼ اړخ کې ماشينې ضابطان او عسکرې افراد په فعاليت بوخت وو ، چې د لارېو تالاشې يې اخيستله . د کابل د درياب په غاړه يو تړپالي عسکرې نفر وړونکی موټر ولاړ و ، چې عسکره ته نيول شوي کسان پکې کېنول شوي وو او څه - ناڅه ځای پکې و، چې د نورو خلکو راتلو ته يې سترګې نيولې وې .

زيارت ګل او مېرمن يې چې د تالاشې والا ضابطانو او عسکرو ځای راورسيدل ، نو يو ماشينې ضابط خپل يو تن عسکر ته امر وکړ ، چې هلکه ! د غه سړی راوګرځوه . عسکر د خپل ضابط په امر زيارت ګل راودراوه او د اسناد و پوښتنه يې ترې پيل کړه.

په خبرو - خبرو کې داسې معلومه شوه ، چې زيارت ګل د عسکرۍ دوره تېره کړې ده . نو عسکر خپل ضابط ته ووېل ، چې ده د عسکرۍ دوره بخوا تېره کړې ده . ضابط چې دا خبره واورېده ، نو عسکر ته يې امر وکړ ، چې موټر ته يې ورسوه . ځکه د دې زموږ له پاره

ډېره ګټه لري، د جنګ په تاکتيك او د وسلې په استعمال به له نورو څخه ښه پوهيږي . زيارت ګل ډېر کوښښ وکړ، چې ځان ترې خلاص کړي، خو څه فايده يې نه کوله. بالآخره په قهر يې ورته وويل، چې تاسو په خبره پوهېږئ او که نه؟ لهما سره ناروغه مېرمن ده، هغه مې د تداوۍ له پاره ډاکټر ته راوستلې ده. بل څوك هم راسره نه شته، چې هغه بيا کور ته ورسوي. دلته په کابل کې هم داسې څوك نه پېژنم، چې مېرمن مې، د هغه کور ته ورشي؛ دا تاسو څه راخيستي دي !؟ ماشيني ضابط په قهرجنه لهجه ورته وويل : په دې خبرو دې نه پوهېږم، مېرمن به دې خپل کار کوي او ته به په خپله خوښه د انقلاب د مدافعينو په ليکو کې درېږې . ګڼه-ګوڼه زياته وه ، د زيارت ګل ناروغه مېرمن يوې ډډې ته ولاړه وه او د ده له عسکرو سره په اخ و ډب بوخت و . يو بل لاروي، چې د زيارت ګل عذرونه او دلايل واورېدل، زړه يې ورباندې وسوځېد، نو ضابط ته يې وويل ، چې داسې خوشې کړه، ځکه ناروغه مېرمن ورسره ده او داسې معلومېږي، چې له اطراف څخه به راغلی وي ، خدای خبر چې په کابل کې به څوك پېژني او که نه ؟ که تاسو دی له دغې ناروغې مېرمن څخه جلا کړئ، نو مېرمن به يې څه کوي او چېرې به ځي ؟ ماشيني ضابط، چې د دغه زړه سواندي لاروي خبرې واورېدې ، نو بل عسکر ته يې امر وکړ چې هلکه! دغه سړی هم د عسکرۍ له پاره جوړ دی او دی هم موټر ته

درومه بوځي . لنډه دا چې زیارت ګل او هغه بل زره سوانده لاروي د واړه موټر ته پورته کړای شول او د زیارت ګل میرمن په داسې حال کې ، چې نه پوهیده څه وکړي او چیرې ولاړه شي . د سړک په منځ کې حیرانه - دریانه پاتې شوه . موټر حرکت وکړ ، زیارت ګل یې یووړ ، خو دا معلومه نه شوه ، چې د ملړمنې سرنوشت یې څنګه شو .

د شپې د اتو بجو په مهمو او عتمو خبرونو کې یو دا خبر هم و ، چې : « زموږ هېواد پالونکي هېوادوال هره ورځ په خپله خوښه د انقلاب (؟) د مدافعینو په لیکو کې دریږي او نن د کابل د ښار د بېلو بېلو ناحیو څخه - ناڅه دوه سوه تنه اوسیدونکي په خپله خوښه د مکلفیت آمریت ته حاضر شول او د سربازانو په لیکو کې ودریدل » .

د (۵۸) مخ پاتې برخه :

حاکمه او په سزا ورساوه ، خو زموږ اطمینان بې ځایه و . سات - نیم سات پس پوه شو چې ټوله سیمه محاصره ده . مګر موږ وارخطا نه شو ، ځکه څوک چې جهاد کوي هغه باید د غرغرې تر سرحده پورې خطرې ومني .

شیخ مران

خاطره:

غبرګې جنازې

دمنې سړو بادونو، د کابل د ګڼو باغونو او ګلبڼونو پاڼې ژړولې او ګلان یې وچ کړي وو. له دې بادونو او سړو سړو د روس د سره پوځ، سور خزان هم یوځای، د افغان په مسلمان او بې دفاع اولس باندې، په خپل استبداد زور لګولی و. د «کارمل» ګوډاګي حکومت هم د خپل غلامانه اخلاص او وفادارۍ په بنا د دوی تینګه ملا تړلې وه. د ۱۳۵۹ لمریز کال د قوس د میاشتې وروستۍ شپې ورځې وې. د هېواد ښارونه، کلي او بانډې ټول ویر او ماتم نیولي وو. د کابل ښار د کوڅو او بازارونو فضا ټوله زنداني وه. هر ماښام به د کابل ښار د اوسېدونکو کورنیو، سپین ږیرو به د خپلو اولادونو او اولادونو به د خپلو پلرونو، ترونو او مشرانو ورونو د راتلو انتظار په ډېرو

تلوسو او الوتلو ښو سره کاوه . هیڅوك نه پوهېدل، چې بېګا ته به د دوی دیدن سره کېږي او که نه ؟

د هېواد په کوټ - کوټ کې، د وینو ښرونه روان وو. اکثره خلك له ډېر غم او اندېښنې څخه وسواسي شوي وو. پلار او مور به مې کشر ورور «حبیب» ته تل ویل، چې نور دې تحصیل پرېږده او پوهنځي ته مه ځه . زما سره خو یې بېخي ورانه وه ، ځکه ویل به یې ، چې که ته خپل ماموریت پرېږدې ، ښایي «حبیب» هم د خپل تحصیل پرېښودلو ته غاړه کېږدي. مشر ورور خو مې ټیکسي موټر چلاوه . د هغه کار لا ډېر خطر درلود. ځکه چې خادیستانو ډېر ټیکسي والان په دې ګناه، جېل ته ورټېل وهلي وو، چې دوی په خپلو موټرونو کې مجاهدین سپروي او ویل به یې، چې دا ټول ټیکسي والان د«انقلاب» ضد دي . دا باید له منځه ولاړشي او په ځای یې باید نور موټرونه له شوروي څخه راوغوښتل شي او د«خاد» د شبکو له لارې په کار ولوېږي. دوی به دې پلان د تطبیق له پاره (١٥٠٠) عراده ماسکوویچ موټرونه له شوروي څخه راوغوښتل او پوښېږي پکار هم واچول.

زما د کورنۍ وسوسه له بلې خوا څخه هم زیاته شوې وه.

هغه دا چې زما دوه تنه د ترونو زامن «فضل خالق» او «سینګل» چې د یوه پلار په ځانګړو کې اوسیده او د بل هم د ١٣٥٨ لمریز کال د جدي په میاشت کې، د روسي ټانکونو په لیدو سره کلا وکړه او د ځانګړو آزادۍ سیمې ته راغی ، له خپل موټر سره د هېواد

شمالي ولایاتو ته تللي وو. دوی له مجبوریته دې کار ته لاس اچولی و. ځکه په ځانګو کې له یوې خوا د لارو د بندیدو له امله هیڅ کار نه پیدا کیده او له بلې خوا یې د کورنۍ غړي ټول په جهاد بوخت وو. خوراك او پوشاك ته ضرورت و او د چا خبره، چې څه ماران خوړنه و، چې په خاورو صبریدلي وای.

خو له هرڅه زیات زما د کورنۍ تشویش په دې کې و چې نور د دې سره کفر سره نه شو اوسیدلی. باید له دې ځایه ژر ووځو او د ځانګو آزادې سیمې ته ولاړ شو. د «جدي د تور ماښام» یو کلنه نېټه را نژدې وه. په دې شپو ورځو کې زیات شمېر مامورین، عسکري صاحب منصبان د پوهنتون او د لیسو شاګردان نیول شوي او جېل ته بېول شوي وو.

د کابل ښار په کوڅو او واټونو کې ځای په ځای روسي زغره وال ټانکونه د پیرې په مقصد ولاړ وو. د پولیسو او ګونډي غړو ډلګۍ به شپه او ورځ له روسي کلاشینکوفونو سره په کوڅو کې د ګزمې له پاره ګرځیدې او کله-کله به د ورو-ورو ماشومانو له خوا د تیږو ګوزارونه پرې کیدل او د پیغور په توګه به یې ورپسې نارې وهلې، چې: «ای وطن فروشانو! زموږ په کوڅو او د کورونو ترڅنګ مه ګرځئ. تاسې خو د روس نوکران یاستئ او....»

په هدغو غم لړلو او ترخو شپو- ورځو کې مې یوه شپه خوب ولید، چې یو «مار» زموږ کور ته راننوزي، چارچاپېر وګرځي

او بېرته ووځې . په دې ترڅ کې له خوبه راویښ شوم او بیا تر سهاره ویښ پاتې شوم . سهار مې سر خوږېده او پر بدن مې درنه ستوماني غزېدلې وه . کله چې له جوماته څخه بېرته کور ته راغلم ، نو خپله سپین سرې مور مې ولیده ، چې له لمانځه څخه وروسته په دوعا ناسته ده او لاسونه یې پورته نیولي دي او له ځانه سره ځنې دوعایه کلمات او جملې تکراروي . سترګې یې شنجې ښکاریدې او یوه نیمه اوښکه به ورڅخه راتوی هم شوه او ما ترې دا څو لفظونه په ښکاره توګه واورېدل : « یا خدایه ! ... ته خو ډېر لوی ذات یې . ته په موږ ورحمېږه ... موږ خو ستا ډېر بېوسه او غریب بندګان یو ... دا روس ... دا په زما دا واړه لمسیان ټول بېدینه او کافر کړي . دا ټول خلک ... خدایه په ... دې سپین سر خو مې مه ځوروې لویه څښتنه ! ستا هر امر مو قبول دی ، بې له کفره .... »

او په دې توګه هغې خپله دوعا ختمه کړه . کله چې چای - څښلو له پاره پر دسترخوان راټول شو ، نو مور مې راته وویل چې : « زویه ! څه چل دی ، ناروغ خو به نه یې ؟ » ما ورته وویل ، چې : « نه موري جوړ یم » . چای او ډوډۍ مې له ستوني نه تېرېدل . په خپل زړه کې مې یو نامعلوم شانته درد حس کاوه . په زړه کې مې داسې تېرېده ، چې څه پېښېدونکي دي . کوښښ مې وکړ ، چې خپل ځانګان څرګند نه کړم ، خو دا کار زما له وسه پوره نه و . هرڅومره هڅه او تلاش مې ، چې وکړ

قرآن مجید آن موضوع آنان در این زمینه چنین حکایت میکند :

یسئلونک عن الساعة ایان مرسها قل انما علمها عند ربی لا یجلیها لوقتها الا هو، ثقلت فی السموات والارض لا تاتیکم الا بغتة یسئلونک کانک حفی عنها قل انما علمها عند الله ولکن اکثر الناس لا یعلمون ٥ (سوره : الاعراف - ١٨٧)

«می پرسند ترا ای محمد (ص) از قیامت که کی باشد استقرار آن، بگو علم (فرا رسیدن) قیامت فقط نزد پروردگاری است پدید نیاردش در وقت (موعودش) مگر خدا (ج)، گران شده است (دانستن قیامت) در (شمولیتش) به آسمانها و زمین فرا نرسد بشما مگر ناگهانی ترا می پرسند (به نحویکه) گویا تو کاوش کننده و متجسسی از دیگری در باره آن) بگو (جز این یک) که دانش آن نزد خدا است واما اکثر مردم (باین حقیقت) پی نمی برند .»

پرستش عناصر کافر در بارهٔ اجل رستاخیز موعود نه بدان معنی است که میخواهند در زمینهٔ معرفت حاصل کنند بلکه به مثابهٔ استفهام انکاری است به منظور تبدیل رستاخیز یعنی اساساً چنین حادثه ای ممکن نیست و ... یابد اگر امکان وقوع آن است به چه دلیلی به تعویق می افتد ... فرا نمی رسد؟ مکذبین رستاخیز نه تنها برای تکذیب آن از پیامبر (ع)، وجوهات عدم وقوع فوری وعاجل آن را می پرسیدند بلکه در زمینهٔ تکذیب عذاب موعود که سرنوشت محتوم عناصر کافر معرفی گردیده است به عدم وقوع فوری آن استناد ورزیده ادعا می کردند که اگر پیامبر

خو د خپل خپګان په څرګند علت پوه نه شوم . یوځل مې تصمیم ونیو، چې دفتر ته نه ځم . بیا مې دا بنه ونه ګڼله، چې دفتر ته به ولاړ شم او بیا به له هغه ځایه، پوهنځي ته د «حبیب» د پوښتنې له پاره ولاړ شم ؟ هسې نه، چې دې وحشي جانیانو نیولی او زندان ته یې بېولی وي .

د سهار نهه بجې وې، په دفتر کې ناست وم، چې ورور مې «حبیب» را ننووت . په لیدو یې ډېر خوشاله شوم . سملاسه مې پوښتنه ځنې وکړه، چې خیریت خو دی ؟ هغه راته وویل، زه راغلم . هلته وضع بنه نه وه . بېګاه شپه یوه پرچمي د ټي، ټي تومانچې په واسطه زموږ یو ډېر خوږ هم صنفي د لیلیې تر څنګ شهید کړ، په ځېره کې یې د درد او غم نښې له ورایه ښکارېدې. ده زیاته کړه، چې په دې پېښې سره ټول محصلین راوپارېدل خو وسله والو پولیسو ژر مداخله وکړه او زموږ لیلیه یې کلابنده کړه . موږ چې سهار، د صنفونو خواته روان شو، زه درس ته، نه ولاړم . اننه یوادنو مې راته وویل چې له پوهنځي څخه ووځه . تا ته د مشورې د پاره راغلم، چې څه وکړم ؟ موږ په دفتر کې دوه - په دوه ناست وو . له ده څخه مې پوښتنه وکړه چې تاسې قاتل پېژنئ ؟ په ځواب کې یې راته وویل : ولې نه هغه خو له کوم بل ځایه نه و راغلی، هم دغه زموږ د پوهنځي محصل و . احساساتو پسې واخیستم او د تندې په بڼه خواکې مې څرګنې شوې . په تنده لهجه مې ورته وویل، چې تاسې بې غیرتې

کړې ده . د هغه انتقام مو باید اخیستی وای ، که بیا مو وطن پرېښودلای وای هم . . . .

موږ خپلې خبرې لا نه وې خلاصې کړې ، چې زما د دفتر همکاره « ح ، ث » راننوته . کله یې ، چې زما په وروړ « حبیب » سترګې ښخې شوې ، د ستي بېرته ستنه شوه ، وې ویل : « ببخشید شما بین خود ګپ میزنید . » ما ورپسې غږ کړ ، چې راځه ! موږ څه خاصې خبرې نه لرو . هغه بېرته راستنه شوه ، خو د دفتر پیاده ته یې ، څه پیسې ورکړې ، چې لږ څه چای دم کړو او شیریني هم ورسره راوړي . د هغې سترګې سرې او د مخ هډوکي یې راوتلي ښکارېدل . په دې دوو شپو کې یې ښه ښځې بدله ښکارېده . له سترې مشې وروسته مې وپوښتله چې ولې ؟ څه دربانده شوي دي ؟ هغې په یوه ساړه اسوېلي سره یې له مقدمې شروع وکړه :

بېګا په « کارته نو » کې تو له شپه جنګ و . ترسهاره پورې وېښ پاتې شو . هیڅا خوب نه دی کړی . د شپې په پای کې ، چې ډزې بس شوې ، د « سید محمد نور شاه » او « رحمان » مېنې تولې کوټې او واټونه د « خاد » او پولیسو موټرو او ټانکونو ونیول . لارې یې بندې کړې ، ویل یې ، چې موږ تلاشي کوو . په دې پله یې ډېر خلک له کورونو وایستل او موټرونو ته یې واچول . هغه ستا دوست . . . یې هم بوتلو . ما ورځغله پوښتنه وکړه ، چې ستا وروړ ؟ دې وویل : هو ! او په دې ټوکه یې خبره په

ستوني کې پاتې شوه . سلګيو پسې واخيسته او په «ختې-ختې» يې وژړل . که څه هم ما هڅه وکړه ، چې دلاسا يې کړم خو د هغې ژړا نه دريده او ويل يې، چې : دا ظالمان يې بېرته کله راپرېږدي . ته نه وينې، چې څه حال يې جوړ کړی دی . نه -پوهېږم ، چې دا به ... نور له موږ څخه څه غواړي ؟ څوشيبې وروسته يې اوښکې پاکې کړې او «حبيب» ته يې مخ وروګرځاوه چې ته دلته څه کوې ؟ څه ، وه څه ، چېرې ولاړ شه ... ته خو نارينه يې . پس موږ خو د ښځې نوم پروت دی . په دې وخت کې، د کرکۍ له لورې زموږ کوټې ته لمر رالوېدلی و . د دې وجود سره لړزيده . ما ورته وويل ، چې چوکۍ دې واخله، د دې خواته لمر ته کېښېنه . «حبيب» ورته وويل : که موږ ټول له هېواد څخه ووځو ، نو هېواد خو بيا روسانو ته خالي پاتې کيږي . دې په ځواب کې ورته وويل ، چې دا سې ده، نو بيا فاکولته پرېږده او په جهاد پيل وکړه . «حبيب» سره له دې، چې دا څنګې هم ليدلې وه او پېژندله يې ، خو په ډېر احتياط سره يې ځواب ورکړ، چې : « خير دې وي ، وبه ګورو ، چې څه کولای شو » .

په دې وخت کې د دفتر پياده د چايو پتنوس په لاس دفترته راننووت . دده له راننوتو سره تيلفون زنګ وواهه . ما په وارخطايۍ سره غوږۍ واخيسته او بې له هغې هم زړه داسې خبرتيا راکوله ، چې موږ ته څه پېښيدونکي دي ، نو ځکه مې بې اختياره له خولې ووتل ، چې خدای دې خير کړي . له مقابل لورې زموږ يو

کلیوال ملک «حسن جان» راته وویل، چې مه وارخطا کېږه، خیریت دی. ما له هغه پوښتنه وکړه چې څه چل دی. هغه راته وویل، چې بېغي خیریت دی، خو یو ځل د «حاجي میرمحمد» دې کور ته ورشه. (حاجي میرمحمد زما د پلار د تره زوی دی.) کله چې ما زیات اصرار وکړ، چې د څه له پاره ولاړ شم او څه پېښ شوي دي؟ په ځواب کې یې راته وویل، چې «فضل خالق» ناروغ دی ته ژر راشه، چې شفاخانې ته یې بوځو.

خدای خبر، چې په ما څه چل وشو، خو د یو سودايي په شان، په بېړه پاڅېدم او له دفتر څخه ووتم. وروړ مې هم بې له دې، چې په موضوع پوه شي، وروسته راپسې راروان و. کله مې، چې ځان ته پام کېده، نو بیا وختي د سړک په غاړه ولاړ وم او ټیکسي ته مې لاس ورکړ. ټیکسي مې مخې ته ودرېده. موټر ته د ختو په وخت کې، خورکه (ح، ث) راته وویل، چې څه پېښه ده؟ څه چل شوی دی؟ او د همدغو پوښتنو په ترځ کې یې، زما خوله، چې د مېز په سر راڅخه پاتې شوې وه هم راکړه. ما ورته وویل: څه ضروري کار دی، زه بېرته راځم. څو دقیقې وروسته په «شاه شهید» کې د «حاجي میرمحمد» دې کورته نږدې، له ټیکسي څخه ښکته شو. د کور په مخ کې ډېر خلک راټول شوي وو. زړه مې په درزا شو. کله چې د کور په دروازه ننوتم، نو په اوږه مې چا لاس کېښود او له دې سره جوخت «حاجي حسن ګل» راته وویل، چې زړه دې ټینګ کړه. او په دې

ترڅ کې مې سترګې په هغو عنبرګو جنازو ښخې شوې، کومې چې د کور په غولي کې، د قبلې پر لورې ته اېښودل شوې وې. په عنبرګو کټونو کې، د «فضل خالق» او «سینه ګل» په وینو رنګ او د اتوماتو ټوپکو په مردکیو غلبېل-غلبېل جسدونه اېښودل شوي وو «سینه ګل» پنځه-پنځوس او «فضل خالق» پنځه اویا پوره لګېدلي و. له سرو پرونو څخه یې همغسې سرې وینې څڅېدلې. په شونډو یې یوه مرموزه مسکا ښکارېده. د کور انګړ له خلکو ډک و. ځینې خلک پارېدلي ښکارېدل او د روس د خونړي او وحشي پوځ په دې غیرانساني جنایت یې لعنت وایه. او ځینو به په سړه سینه او پوره حوصلې سره ویل، چې ترهغه پورې، چې روسي پوځ زموږ په هېواد کې وي، زموږ به همدغه حال وي. جنازې به مو په وینو سرې وې او هره ورځ به د خپلو شهیدانو په وېر ناست یو او....

دغه دواړه تنکي ځوانان د «بغلان» او «کندز» ترمنځ په عمومي واټ، د روسي قاتلانو له خوا په شهادت رسېدلي وو. په داسې حال کې چې د کابل په لور روان وو له مقابل لوري یو روسي زرهپوش په قصدي ډول د دوی له موټر سره ټکر کړی و. او په دې توګه د دوی موټر له حرکت څخه لوېدلی و. سروګوره روسانو د ټوپکو په زور دوی د واړه له موټر څخه ښکته کړي وو. په «فضل خالق» یې کلاشینکوف چلولی و. «سینه ګل» ورمنډې کړې وې او هغه یې په غېږ کې نیولی و، چې ای ظالمانو، دا مو څه وکړل!؟ موږ څه ګناه کړې ده؟ او بیا پرې دوو تنو نورو

روسانو ضربې چلولې وې او په دې توګه هغه دواړه غبرګ په غبرګه په ځمکه لوېدلي او شهيدان شوي وو. چا چې د دوی جنازې راوړې وې، هغوی وويل: کله چې موږ ورغلو، د دوی وينې همغسې روانې وې او ځمکې نه وې جذب کړې.

روسي يرغلګرو د خپل لوټ او تالان په مقصد دوی شهيدان کړي وو. د دوی کرتۍ او واسکټونه يې د برچو په واسطه ورځنه پرې کړي او ايستلي وو، چې د بدن غوښې يې هم ورسره پرې شوې وې. پيسې يې ورځنه اخيستې وې. موټر يې ټول لوټ کړی او آن تر دې، چې د موټر ځينې سامانونه لکه راديوکسيټ، د سيټونو قالينچې او نور يې ټول غلا کړي او وړي وو. او په دې توګه يې په هېواد کې د هغو زړورو نورو مسلمانو او د دفاع کوونکو په شان زموږ کور او کهول هم د «فضل خالق» او «سينه ګل» د شهادت په وياړ وياړمن کړ.

مګر زموږ د مسلمان او متدين اولس د دين او وطن د دښمنانو بايد په دې پوه وي، چې وحشت، بربريت، وژنې او ړنګونې د دې ايماندار او مجاهد ملت اراده او ايمان نه شي ماتولی.

د «فضل خالق» او «سينه ګل» ټول کهول په دې وياړ سره نن ورځ د خپلو زړورو شهيدانو د وينو د کتلو او انتقام په قوي جذبه د پاکستان په ورور هېواد کې د هجرت سختې او ترخې شپې - ورځې تېروي او ځوانان يې د هېواد په تودو سنګرونو کې لګيا دي خپل مقدس جهاد ته دوام ورکوي.

حکیم - تڼیوال

روس به ښکته باسو ؟

یو وخت زه محصل وم او د دې د پاره مې هلې ځلې کولې چې «امریکا» دې، د «ویتنام» ته خپل پوځونه وباسي. د «ویتنام» په هکله، موږ فکر کاوه، چې مظلوم واقع شوی دی، ځکه د آزادۍ د پاره جنګیږي. رښتیا هم، زموږ فکر صحیح و، خو واشه نن ورځ «ویتنام» په «کمبودیا» خپل پوځونه ننه ایستلي او د خپلې پرونۍ ایدیا په خلاف، د «کمبودیا» خلک په زوره دې ته مجبوروي، چې یو نامنلی حکومت پرې قبول کړي. روس «ویتنام» ته، پرون هم وسلې ورکولې او نن یې هم ورکوي. پرون د «ویتنام» د آزادۍ د پاره او نن د «کمبودیا» د اشغال د پاره دې ته به څوک، ښکته، په یوه ډول وګوري ؟ دا ځکه «سوسیالیزم» دی ؟ روس خو وایي، چې زموږ مبارزه، مسالمت آمیزه همزیستي

او صلح باهمي ده. دې ته صلح وايي او که د جنګ تود ول دي. سوسياليزم ښو به، پرنسيپونه وي. دلته خو، د پرنسيپ ماتول دي.

او شپږ کاله کېږي افغانستان ته، په لکونو پوځونه ولېږل څکه، د کودتا حکومت ځان، نه شو، ټينګولای. د «روس» پنځه پرنسيپونه، د مسالمت آميزه همزيستي، صلح، سوسياليزم او دموکراسي څه شول او چېرې د ی، چې هر چا ته يې، پر مخ ورولې؟ نن او پرون، په جهان کې يوه ټوکه ده، چې وايي: «روسان په افغانستان کې لا څه غواړي او ولې نه وځي»؟ «روس» په ځواب کې وايي: موږ په هغو خلکو پسې ګرځو، چې پيدا يې کړو، چا چې موږ دعوت کړي يو». کوم د ی، هغه حکومت، چې «روس يې دعوت کړې؟ دنيا دومره ړنده نه ده، چې څوک به دا خبرې قبولې کړي؛ خو دا هسې فورمال خبرې دي؛ دا فورماليزم د «روس» د پاره بې معنی دی. پرون په «ملل متحد» کې (۱۲۲) هېوادونو د «روس» د وتلو د پاره رای ورکړه، خو د «روس» نماينده د ا فيصله غير حقوقي وبلله او رد يې کړه؛ کومه ده هغه دموکراسي او کومه ده، هغه صلح، چې روسان يې غواړي؟ چېرته چې يو کودتايي حکومت، چې د «روس» د پاره کودتا وکړي او خلک پسې راپاڅي، نو بيا «روس» کوشش کوي، چې هغه ټينګ کړي که دا په «حبشه» کې وي. که په افغانستان کې، خو د «روس» دلچسپي مهمې دي؛ د «روس» ګټې مهمې دي او دا کله د سوسيالستي انترناسيوناليزم په نوم کوي او کله يې هم دا، چې

سرحداتو ته يې خطر دی او کله هم داسې پلاوې راپيدا کوي، چې خوله يې، نه ويني .

نن ورځ جبهې بدلې دي . پرون « ويتنام » مظلوم و، خو نن ظالم دی . پرون « روس » د غربي استعمار په ضد د آزاديغوښتو جنبشونو د طرفدارۍ خبرې کولې . پرون « روس » ، « انگلستان » او « فرانسې » ته ، د « سويس » د « کانال » په بحران کې اخطار ورکاوه او د « مصر » او « ناصر » ملاتړ يې کاوه . پرون « روس » د غربي استعمار، په ضد و ، خو نن « روس » په خپله استعمار دی ؛ ملکونه لاندې کوي . « لينن » ويلي وو، چې د « زاريزم » مستعمرې، حتی کولای شي ، چې ځانته دولتونه شي او د « روس » څخه ځان بېل کړي ، خو « انور پاشا » ، « ابراهيم بيک » او نورو په زرگونو د مرکزي آسيا مجاهدينو د ولس کاله مبارزه او مجاهده وکړه او چا دوی ته ، ملي حقوق ور نه کړل ؛ د « روس » سياست هاغه د « زار » استبداد دی . « ويت فوگل » د « آلمان » چې وروسته « امريکا » ته وتښتيده او د کمونيزم څخه يې توبه وکړه ، د « روس » په استبداد باندې، يو مهم کتاب وليکه ، چې ـــــــــــ Oriental Dispotism (شرقي استبداد) نوميږي؛ د دې کتاب مهم تيسس دا دی ، چې په « روس » کې، سوسياليزم نه دی يوا ځې، يو استبداد (زاريزم) بل استبداد (د بلشويکي ديکتاتورۍ) ته منتقل شو .

بلشويکي انقلاب هم، يو ډ کودتا وه ، د « پتروگراد گارنيزون »

په « وینتر پلاست » باندې حمله وکړه او په توپونو یې وویشت.
« کیرنسکي » د « روس » صدراعظم وتښتیده او وروسته د « پترو-
ګراد کارګرانو » کارګروته هم وسله ورکړه . « لېنن » په عسکرو کې
د جنګ د بس کولو تبلیغ کړه او « روسیه » د جنګ څخه
ستړې وه ؛ دا کودتا وه او که انقلاب ؟ هر چا ته معلومه ده
چې د اکتوبر انقلاب په « روسیه » کې کودتا وه ؛ البته هغه چا ته
چې تاریخ ورته معلوم وي .
« روس » کله چې « خېوا » ونیوه ، نو د « انګلستان » حکومت
ته یې د خپل وزیر خارجه په واسطه یو خط ولیکه ، چې روسي
پوځونه به ، ډېر ژر له « خېوا » څخه ووځي ، خو وروسته له هغې
چې نظم په « خېوا » کې برقرار شي او د « روس » حکومت د خپلو
جنوبي سرحداتو څخه مطمئن شي ؛ نن هم همدا ډول خبرې کوي .
روسانو د « افغانستان » د اشغال څخه وروسته بیا هم
دا ډول خبرې وکړې ، چې ګویا د « روس » محدود قطعات به د نظم
او آرامش د راوستلو او د خارجي مداخلې د بندولو څخه وروسته
ووځي . که پرېیان « افغانستان » ته رانغوتلي وي او افغانانو تور
سترګو نه شول لیدلای او یوازې شین سترګو روسانو لیدلي وي ، خو
دا بله خبره ده او که نه ، افغانستان ته ، د اول ځل د پاره روسان
رانوتل ، خود دا هم هسې چټې خبرې دي او چا ته معلومې نه دي .
یوه مؤسسه « ملل متحد » ده او هغه هم ډېر بې وسه ده ، یوازې د
خبرو او موقف نیولو د پاره یو ستیج دی . نوره دنیا د « روس »

در ادعایش صادق است باید وعید عذاب مذکور تحقق یابد چنانچه قرآن مجید درین باره می فرماید :

ویستعجلونک بالعذاب ولولا اجل مسمی لجاءهم العذاب ولیأتینهم بغتة وهم لایشعرون، یستعجلونک بالعذاب، وان جهنم لمحیطة بالکافرین •

(سوره : العنکبوت ۵۳ - ۵۴)

«وبه عجله از تو عذاب می خواهند واگر نبودی میعاد معین حتماً آن عذاب به ایشان فرا می رسید وحتماً بیاید به آنان ناگهانی درحالیکه به خیال شان نمی گذرد وبه شتاب می طلبند از تو عذاب را درحالیکه جهنم محیط است بر کافران» باید این کافران بدانند که باوجود تکذیب عذاب موعود به جهنم سقوط خواهند کرد ساختمان شخصیت این مردم سراسر برگناه وجرم مبتنی است گویا عوامل دوزخ وموجبات جهنم چون هالهٔ قیرگون شخصیت آنان را احاطه کرده است وباوجود آن تحقق عذاب الهی وجهنم را تکذیب می کنند انانیکه فرارسیدن رستاخیز را تکذیب می کردند پس از مشاهدهٔ عذاب قیامت برهمهٔ گذشته های ننگین اظهار ندامت نموده درخواست می کنند تادوباره بزمین رجعت یابند وبا استفاده ازین فرصت به جبران گذشته ها بپردازند درخط ایمان قرار گیرند بعبادت معبود یگانه اشتغال ورزند وازهمه پیوندیکه باعث سقوط آنان به جهنم شده است منکر شوند سردمداران وپیشقراولان شانرا که پیروی از آنان مایهٔ گمراهی وانحراف آنان شد محکوم

څخه ډاريږي . ځينې حتى د «روس» نوم هم نه اخلي او يوازې وايي چې خارجي پوځونه دې، د «افغانستان» څخه ووځي . يواځې د «کاناډا» نماينده، په «ملل المتحد» کې دا واړې سمې خبرې وکړې خو فايده يې څه ده ؟ چاته يې وايي او څوك يې اوري ؛ متل دى، چې ځاى هغه سوځي، چې اور پرې بليږي . يوه ورځ به، په «عمومي اسامبله» کې، هر نماينده، خبرې وکړي . بيا خو دا ړنده نړۍ نه وينې چې په «افغانستان» کې، دا اووه کاله، څه تيريږي ؟ او اووه ځله «عمومي اسامبلې» په لوى اکثريت سره د «روس» د عسکرو د ايستلو تقاضا وکړه . خو «روس» داسې خونخوار دى، چې د وينې څخه ړوندکوي. د «لينن» څخه، چا پوښتنه کړې وه، چې په انقلاب کې، خو ډېر مرګ و مير کيږي، په دې هکله، ستا نظر څه دى ؟ ده په مقابل کې ويلي وو، چې «انقلاب خو، په دستکشو کې، نه کيږي» يو شى، چې په مرګ شروع شي او بيا انجام نه لري . د سره بيرغ انقلاب، د وينو انقلاب دى . د نوموړ شويو غريبانو عقدې، د بل غريب په عجز او زاريو کې خلاصيږي . دلته دى هم، تر ځان بل غريب او عاجز وينې ؛ دا يوه روحي مسأله ده . د سوسيالست د پاره، غربت او وروسته والى عقده ده او هله دا عقده پرانستل کيږي، چې زورور انسان، وروسته د وينو بهولو څخه، ستيج ته پورته شي او ځان تثبيت کړي ؛ دا د انقلاب، ډيناميزم دى او د دې څخه ړوند کوي . سړى بايد، چې لاړې تو کړي، هغه يوروپ ته، چې دا ايديا يې، په خپله غېږ کې روزلې وه . سړى بايد، چې لاړې تو کړي

هغه «روس» ته، چې هرڅېرې او همېشه د انسان او انسانیت څخه خبرې کوي، خو وژني یې، چېرې یې ،چې پیدا کړي.

«روس»، «خلق» او «پرچم» او «رامش چندرا» دوی ته جنت معرفي شوی و، خو «روس» د جهان لوی ملک نه دی بلکې تر ټولو لویه بندیخانه ده. په «روس» کې، نه «کارګر» واک لري او نه «بزګر»؛ دا دواړه طبقې د خدای په قهر اخته دي. د «بلشویکي» کودتا عسکرو وکړه او یوازې په کارګرو پورې یې وتړله لکه په «افغانستان» کې هم. او کله، چې بزګرو او حزب یې د شوراګانو په انتخاباتو کې، اکثریت لاس ته راوړ، نو «لینن» انتخابات غلط وګڼل او په نتیجه کې یې، عالي شورا منحل کړه. دا د کمونیزم اخلاق دي؛ د دوی د پاره پرنسیپ معنی نه لري. د ځمکو د اصلاحاتو د پاره «لینن» د سوسیال انقلابي حزب د بزګرو پروګرام واخیست او کله، چې د سوسیال انقلابي حزب مشر شکایت وکړ او پروګرام یې خپل وګاڼه، نو «لینن» په ځواب کې وویل، چې ستاسو پروګرام زموږ د پاره کافي ښه دی او ځکه مو واخیست. په «روس» کې پخواني طبقات له منځه لاړل، خو یوازې اشخاص یې، بلکې طبقې هم نسې پاتې شوې. د فیودالانو او بورژوازی پرځای، د کمونست حزب او د حکومت اجراییه راغله. نن ورځ په «روس» کې، دوې ټولنې دي، یوه ملکي او بله عسکري. د عسکرو د پاره یعنې د افسرانو د پاره هرڅه شته او ملکي ټولنه هیڅ نه لري. د کالجونو د امتحان ټاپ فارغین، ښه کارګران، نوي ماشینونه او کمپیوټرونه هرڅه

لومړي نظامي ته ورکول کیږي ، بیا ، په دوه یمه درجه کې ملکي راځي .

« روس » د دوار تولنه ده او په واهه چلیږي . هرڅوك د خپل اولاد او اولاد د مور او پلار څخه ډاریږي . تولنه بیا د جاسوسی د سازمان(K . G . B) څخه ډاریږي .. « روس » عالو ته ضرورت لري . د نظر ورکول مهم نه دي . حزب د کارگرو او ملك د بهبود دپاره فکر کوي . هیڅوك باید مظاهره ونه کړي او نه بې حق لري . په « روس » کې دلته هم ، دوه ډوله خلك دي ؛ یو هغه خلك دي ، چې په حزب کې ، جګ منصبونه لري او یا د کمیټو مشران دي ، یا همم اخبارونه لیکي ، سیاسي تبصرې کوي ، په راډیو او تلویزیون کې ، او پام کوي ، چې هیڅ شی ، د سیستم څخه خارج نه شي یا هم د جاسوسی د سازمان (K . G . B) غړي دي او د عسکري نظام او ټولنې جګ صاحب منصبان دي . که د « ستالین » قتل عام ، یاد شي او یا هم د « خروشچف » ریویزیونیزم ، خو حزب هیڅکله غلطي نه کوي . عوام ، کارگر او بزگر ، چې اصلاً د ولت ، د دوی دولت دی ، هیڅ حقوق نه لري او کله هم ، د بې شعوره ، نارسیده او غولیدلی په نوم ، مورد ظلم واقع کیږي ، زندانونو ته کش کیږي او یا هم « سایبیریا » ته تبعید کیږي ؛ « ستالین » په ملیونو خلك او په لکونو کارگر ، د « سایبیریا » په کمپونو کې مړه کړل .

« روس » د بشر د حقوقو اعلامیه امضا کړې ده ، خو په « روس » کې ، وروسته له شپېته کاله ، سوسیالیزم بیا هم د « روس »

بشر هیڅ حقوق نه لري ؛ نه د مظاهرې حقوق لري ، نه د لیکلو او ویلو حقوق لري ، نه مطبوعاتي حقوق لري او داسې نور او داسې نور . پرون یې د امریکا له جمهور رئیس «ریګن» سره یوائې د مجبوریت په اساس، د بشر په حقوقو خبرې کولې . اصلاً نه یې کولې ، زړه یې نه و ! یهودان، د «روس» نه وځي ، خو دوی یې ، نه-پرېږدي . جرمنان او نور ملتونه ځي ، خو دوی یې ، نه پرېږدي د «روس» نه څوك ، هیڅ چیرې نه شي تلای ؛ یوائې سوسیالستي ملکونو ته ځي .

روسان نه شي کولای ، چې «B.B.C.» ، «امریکا غږ» او «المان غږ» واوري . روسان په ملیونونو روبله مصرف کوي ، چې دغه دول پروګرامونه تخریب کړي . «روس» یو رسمي نظر لري ، چې ټول اتباع یې هماغه نظر لري ؛ دغه دی ، د سوسیالیزم توت او دغه دی ، د سوسیالیزم ډار ! د امپریالیزم د «خسا نظام» څخه ډارېږي ؛ نه څوك ورپرېږدي او نه یې نظر په چا اوري .

«روس» به ویل ، چې موږ نوی انسان جوړوو ، داسې انسان ، چې د انسانیت نمونه وي . د «روس» انسان ظالم دی ډارن دی ، رشوت خوړ دی ، غلا کوي . په «افغانستان» کې د «روس» نوی انسان ، ښځې او ماشومان حلالوي ، سپین ږیري وژني ، خوار او غریب ملت قتل عام کوي ، غلا کوي ، د موټرو ټایرونه خرڅوي ، کلاشینکوف خرڅوي ، په تلاشیو کې د خلکو د کورونو نه رادیو ، ټایپ او د خلکو د لاسونو نه ساعتونه

اخلي ، د ښځو ګانه او نور د ځان سره وړي . د انسان رښتيا چې نوی دی ، دا سې انسان موږ کله نه و ليدلی .

د « روس » ټول سيستم ، يوازې پروپاګند دی ، نور هيڅ نه لري . نه « روس » اقتصادي قوت دی ، نه « روس » موږ دی . يوازې په تبليغ او پروپاګند کې اول نمره دی ، په دې کې هيڅوک پسې نه شي رسيدلی ، په دې هکله يې طلايي مدال هېشه ګټلی دی . په درواغو کې ښځې اول نمره دی . دا سې دروغ ، چې دی په خپله څه وکړي او په بل يې و تپي . ښځې کمال کوي ! په تبليغ او پروپاګند کې دوی ډېر کار هم کړی دی . هم يې په خپل ملك کې پکاروي او هم يې ، د دريم جهان په ملکونو کې . وروستيو ته اخطار دی ! ګوره ، چې د « روس » خبره قبوله نه کړه ، ګوره د « روس » سره به ملګرتيا نه کوه ، ګوره چې « روس » ته نږدې نه شې ! د « روس » سره موکه معامله کوله ، نو زموږ افغانانو نه پوښتنه وکړه د « اروپای شرقي » د ملکونو نه پوښتنه وکړه . موږ ته معلومه شوه ، موږ به ښه مشوره درکړای شو ؛ « افغانستان » د « روس » همسايه او ملګری و . زموږ خوږه ملګرتيا د « روس » سره اوس دې ته ورسيده ، چې وطن مو لوټې - لوټې پروت دی . که څه هم د « افغانستان » د ختيو قلاوې ، د ومره ټينګې دي ، چې يو - نيم راکټ پرې څه نه شي کولای ، خو « روس » د اسې قوت استعمالوي ، چې قلاوې ، ځنګلونه ، باغونه ، فصلونه ، بالاخره زموږ اقتصادي

اجتماعي استعداد مړ کوي او هداسې لګیا دی، په ټټول قوت سره .

د سوسیالیزم شعار «کور، کالي، ډوډۍ» دی . ګوره! څومره لومړني ضروریات بښي او څومره پروپاګندي تاثیر لري. هر غریب دې خواته کش کېږي . لاکن د «افغانستان» د خلکو نه پوښتنه وکړه ! نن او سه پورې، د یوه ملیون افغانانو د پاره د «کور» پر ځای ګور ، د «کالیو» پر ځای کفن او د «ډوډۍ» پر ځای ګولۍ ورکړل شوې . ګوره، بیا هم خوارو او غریبو ! ای د «افریقا» ، «آسیا» او «امریکای لاتین» خلکو ! ګوره، چې بې له دې چې زموږ سره مو مشوره نه وي، دا ‌هې ایډیالوژي خپله نه کړه او بې له مشورې به ملګرتیا نه کوۀ ؛ بیا به ارمان کوۀ او وخت به درنه تېر وي .

روسان وایي، چې سوسیالیزم نن تولو «هومانستي» مسلک دی . سوسیالیزم او هومانیزم سره مشابه دي . هومانیزم خو د انسان نوم دی، مګر د «روس» په مسلک کې هیڅ هومانیزم نه شته. موږ ته دا سر جوت او موږ ته سره روسان معلوم شول. موږ ته سره د «آزادۍ» اردو معلومه شوه . دا راز موږ ته معلوم شو چې په یو عنت قیمت سره ؛ د سرونو په قیمت ، د آزادۍ په قیمت به انشاالله نه شي، خو د وینو په قیمت او زیاتو وینو ! زمایو ملګریو څومره د خلقیانو د لاسه بندي شو . وروسته له خلاصون یې ماته وویل چې « په زندان کې د «خوست» یو «هندو» ، مساپر عسکر وو، صاحب منصب

وې، مامور و، تجار، فیوډال او بزګر و، ملا و، اخواني و د خلق او پرچم غړي وو، چینايي ترند کمونستان وو. بالآخره زه دلته پوه شوم، چې کودتا د «روس» د پاره شوې وه. ځکه بله هره طبقه او قشر په زندانونو کې ناست وو.»

هو! «روس» په خپل ملک کې کودتا وکړه او په ۱۹۷۸ م «اپریل» کې کودتا وکړه. موږ باید د «روس» سره ملګرتیا نه وای کړې، ځکه ډېره راته نژدې او یوه سرې خوره بلا ده. دا زموږ یوه غلطي شوه. دویمه غلطي مو دا وه، چې د هېواد منظمه قوه، چې اردو وه، د دوی په لاس مو ورکړه. اوس په درېمه نړۍ کې اردو یو انقلابي قوت بولي. دا چې په درېمه نړۍ کې کارګر (صنعتي) نه شته، نو اردو د کارګرو ځای نیسي، ځکه د کمونیزم د کامیابۍ او رواجولو د پاره په اصطلاح د کارګرو پارټۍ ته ضرورت دی. هغه هم باید، چې د فابریکو کارګر وي، چې د تولید په پروسه کې یې د استثمار شعور پیدا کړې وي؛ خو کله چې دا کارګر په درېمه نړۍ کې نه شته، نو «روس» د غه انقلابي پوتنسیال په اردو کې جبران کوي. اردو رښتیا هم، چې یوې فابریکې ته ورته ده، د اردو کار د ماشین سره دی. که ټانک دی او که توپ او که ټوپک ټول ماشینونه دي. پوره دسپلین او انضباط موجود دی. د قدرت شوق هم ډېر صاحب منصبان کوي. یوازې په دوی کې باید، چې د موجوده رژیم پر ضد نارضایت پیدا شي، دا هم د «روس» د پاره سخته خبره نه ده. د «روس» راډیوګانې، د دنیا په هره ژبه خپرونې

کوي، د هر ملک په ژبه کتابونه لیکي او تبلیغات کوي ، هر ملک ته په زیاته اندازه سکالرشیپونه عرضه کیږي . د ژورنالستانو او کارگرو اتحادیې دعوت کوي . زموږ خو د اردو صاحبمنصبان په « روس » کې تربیه کیدل، هلته یې د وېرو مازغه ومینځل .

« روس » چې د هرچا سره معامله کوي، نو گټه به یې پکې وي. داسې سودا ، چې کله هم نقص متحمل شي ، هیڅکله نه کوي . « روس » د بل چا څخه گټه کولای شي او خپله هیڅ د لاسه نه ورکوي . څه چې ستا په لاس کې دي، پرې خبرې کوي او څه چې د ده په لاس کې دي، هیڅکله پرې خبرو ته حاضر نه دی . آزادې نړۍ تر اوسه همیشه د « روس » په مقابل کې بایللې ده ، ځکه چې د « روس » په دینامیزم نه پوهیږي . « روس » ډېر ښه په دوار پوهیږي خو د « روس » نبض معلومول په کار وو . آزاده نړۍ یو خو خپل تر منځه اقتصادي او ملي رقابتونه لري او ورو په ورو د « روس » په مقابل کې ضعیفه کیږي او بل د « یورپ » زیاتره خلک فکر کوي چې (Better red than dead!) سور ښه یم، نه دا چې مړ شم ! دا هم د « روس » د فواوو غلط تخمین دی . بلکه دا چې دریم جهاني جنگ نه کیږي .

نن او پرون د « گورباچوف » او « ریگن » تر منځ خبرې وشوې . روسان وایي، چې موږ وځو . په دې کې به دوه – درې کاله تېر شي . د « امریکا » بل رئیس جمهور به دومره مصمم نه وي ، د هغې ورځې د سیاست تابع به وي ، د « امریکې » عامه رای ته به گوري او کوشش

به کوي، چې بیا هم انتخاب شي. د «غمو» بندول، په «روس» باندې، د یوه پرنسیپ خبره وه، بېرته خلاصول یې د رایو د کتلو او برګرو خبره وه؛ دلته پرنسیپ د شخصي او ملي ګټو نه قربان شو.

رابه شو د «افغانستان» خلکو ته! دوی مهم دي چې د «روس» سره به یې نور آخره وهي، که خدای مه کړه نه وشي نو دا به، د دوی ګناه نه وي. د «آسیای مرکزي» د جنبش سره هم، زموږ په شان هیڅ لازمه مرسته ونه کړه. دا اوه کاله افغانان په وینو کې ولمبیدل، لاکن په یوه ډېر غیر مساوي جنګ کې، چې لا نور اوسه هم په هماغه سیستم روان دی. افغانان پوهېږي د خپل ملک د آزادۍ د پاره جنګ نه کوي، بلکې که افغانان کامیاب شي او که ناکام، دا به د «روس» د کړو-وړو د پاره یو محک شي. که افغانان کامیاب شي، نو د «روس» سلوک به، په ټوله نړۍ کې تغییر وخوري؛ بیا به د «روس» د قدرت نیولو او ملک نیولو دسیسې کمې شي. او که افغانان خدانخواسته، د خارجي عواملو او نه کومک کولو له امله ناکام شي؛ بیا به «روس» ډېر ژر په «تیلو»، «خلیج» او «بحر هند» قبضه وکړي او بیا به د «امریکا» انتخابات په «شرق میانه» او «اسرائیلو» پورې مربوط نه وي. بیا به سوسیالیزم د «اصلاح» څخه نور دروازو رسیدلی وي. بیا به «امریکا» د سوسیالستي ملکونو نو منځ یوه جزیره وي. او که دا یې نه خوښیدله، بیا دې نو ځان دریم نړیوال جنګ ته تیار کړي.

د افغانانو د زده‌کړې وخت، پخوا تر اشغال و، خو بیا هم باید، چې هوښیار شو، بیا هم د «روس» پېژندل ضروري خبره ده. البته ځان باید، چې هم وپېژنو او خدای هم وپېژنو! زموږ حالت څه دی او څه‌کول پکار دي؟ زموږ جهاد څو بعده لري؟ یواځې د جنګ بعد او که سیاسي بعد هم. یواځې عشر ټولول او که د خلکو فرهنګ ته هم پام کول ضرور دي. یواځې مهاجرین راشړل، اسلحه او که آزادو مناطقو ته هم پام کول پکار دي؟ آیا پروپاګند دې یواځې روسان کوي او که موږ باید هم څه وکړو؟ دا سې نور ډېر سوالونه دي، چې په جهاد کې اوس ډېر حاد دي! زما په فکر چې موږ باید مسلح جهاد وکړو، قرباني ورکړو، بلکه لار نه شته، خو دا نور ابعاد هم دومره ضرور دي، لکه مسلح جهاد.

که تر ټولو لومړی سم، ژور، عمیق او د زړه اتحاد یا ایتلاف وکړو او بیا د هغې پر بناء په آزادو مناطقو کې یوه واحده اداره، د تعلیم او تربیې یو واحد سیستم، صحت، فرهنګ، زراعت مالیه او ډېرې چارې نورې تر سره کړو، نو هر څوک به وویني چې تر «ببرک» او روسانو ډېر خلک موږ ته مالیه راکوي تر دوی موږ ډېر مکتبونه او شاګردان لرو، تر دوی موږ ډېرې شفاخانې لرو او داسې نور. بیا به نړۍ زموږ په زور پوه شي، بیا به نړۍ وویني، چې موږ ټېرشه‌کولای شو، بیا به نړۍ په موږ ډېر اعتماد وکړي. موږ باید، چې دومره په مهاجرو او

میکنند ویکی بر دیگری لعنت می فرستند قرآن درین باره می فرماید ،

کلما دخلت امة لعنت اختها حتی اذا ادارکوا فیها جمیعاً قالت اخراهم لاولٰهم ربنا هؤلاء اضلونا فاتهم عذابا ضعفا من النار، قال لکل ضعف ولکن لا تعلمون. وقالت اولٰهم لاخراهم فما کان لکم علینا من فضل فذوقوا العذاب بما کنتم تکسبون ٥

(سوره : الاعراف - ۳۸-۳۹)

«هرگاه گروهی (به دوزخ) در آید گروه دیگری مثل خود را (گروه هم کیش خودرا) لعنت کند تاانکه همه در دوزخ بهم آیند جماعهٔ متاء خرشان دربارهٔ گروه نخستین گویند ،

پروردگارا ! اینان مارا بگمراهی کشانیدند بناءًبا عذاب دوچند آتش معذب شان کن ، خداوند ج ، گوید ، برای همهٔ تان دوچند است ولی نمیدانید وگروه نخستین آنان بگروه متأخرشان گوید ، پس نیست شما راهیچ نوع برتری وفضیلتی برما پس بچشید عذاب را بناء بر عمل کرد تان »

همچنان از آنان حکایت می کند ،

قالوا ربنا من قدم لنا هذا فزده عذ ابا ضعفا فی النار ٥

(ص : ٦١)

«گویند : ای پروردگار ما هرکه تقدیم کرد برای ما این را (هرکسی طریقهٔ کفر و ضلالت را برای ما گذاشته است) پس زیادش بچشان عذاب دوچند آتش »

ودر جای دیگری چنین بیان شده ،

په پښو بند نه شو، چې آزادو مناطقو ته مو فکر نه شي.

په دوهمه درجه باید، چې زموږ قوماندانان ډېر فکر وکړي، چې کمبود اوخونه یې پوره شي، موږ د تکړه قوماندانانو ښې نمونې لرو. موږ باید چې زده کړه وکړو، په هر لحاظ او کنه، «زموږ فارسي به ختمه شي». په هره خوا کې، چې «روس» جنګ کوي، موږ یې باید نه یوازې، مقابلې ته حاضر شو، بلکې تر هغه وړاندې، باید موږ پرې حمله کړې وي. که دا جنګ د تبلیغ او پروپاګند وي او که د مکتب او شفاخانې وي او که ټوره او ټوپک وي. د افغانستان په کلیو او جوړولو کې ټول افغانان پکار دي او هر یو باید، چې شپه او ورځ کار وکړي. هیڅوک دې په خپل مقام نه دراېږي، هیڅوک دې په خپله قوماندانۍ او رهبرۍ نه دراېږي. زموږ ډېرو زیاتو قوماندانانو او رهبرانو ته ضرورت دی هر قوماندان باید، چې د دښمن په خبره پوه وي، په تاکتیک یې پوه شي، په سیاست یې پوه شي او د اوضاعو تحلیل وکړای شي. او کنه خبره به سخته شي.

که فرض کړو، چې «روس» نه وځي او «روس» ښتیا هم په رضا نه وځي. ځکه «روس» ورو په ورو د نیا د «افغانستان» د اشغال سره بلده کړه او دا یو واقعیت دی. مګر روس ایستل کیدای شي. تر اوسه د «روس» مصارف ډېر زیات نه دي، تر اوسه پوره په عذاب نه دی او اوس لږ شانته بلد شوی هم دی. خپلې وسلې هم دلته تجربه کوي او عسکر هم بلدوي. په اصطلاح

د «افغانستان» جنګ ورته مانوي دى. لاکن «روس» ایستل کیدای شي !!! خو د «روس» د ایستلو دپاره باید یوشمېر تغیرات په موږ کې راشي او څه هم په دنیاکې. موږ بایه، چې خپل وحدت ټینګ کړو، یوه واحده نظامي قومانده ولرو او یوه واحده سیاسي رهبري، که د شورا په شکل کې وي او که د شورا په سر کې، یو رئیس وي. په هر صورت، خو هرڅه باید یو واحد نظم ولري او یوه واحده اداره. د ځینو قوماندانانو د خود سرۍ یو علت هم د پارټیو په تعدد او رقابت کې دى. ځکه که یو رهبر کوم قوماندان خفه کړي، نو هغې بلې پارټۍ ته ځي. د مجاهدینو ترمنځ جنګونه هم د همدې رقابت نتیجه ده. لنډه دا چې د وحدت او انسجام په لور کامونه، زموږ د پاره حیاتي ارزښت لري.

د اقتصادي - اجتماعي سیاست یادونه مو وکړه او نیولو مناطقو اداره مو هم لې ځکې یاده کړه. زما په فکر، چې بله چاره نه لرو او دا چارې لازمې دي. یوه - تکړه او تعلیم یافته قوماندانان سیاسي کارکوونکي او د ګریلايي جنګ په قواعدو تمرین شوي مجاهدین باید د جهاد په ډګر کې ډېر کړو.

کله، چې موږ دا کار وکړو، نو دنیا مجبوره ده، چې زموږ له منسجمې رهبرۍ سره لازمه مرسته وکړي، هاغه تقویه کړي، هاغه ته نمایندګي ورکړي او هاغه وپېژني. بیا به، په یو ځای عمل کولای شو، بیا به ټولې قوې، په یوه نقطه وارد ولای شو. دا کومې نوې خبرې نه دي. د «افغانستان» ټول خلک پرې

(پاتې په ۹٦ مخ کې)

لندۍ

جهاد د خدای (ج) له لوري فرض دی
ځوانان د خدای (ج) امر منئ، سر ورکوینه
ورونو! بوړې توپک راواخلئ
زموږ په ګران وطن روسان کړي یرغلونه
چې امتي د پیغمبر (ص) وي
له سره تېر، د قربانۍ ډګر ته ځینه
چې امتي د پیغمبر (ص) وي
په خپل جهاد، د کفر وولې، پرې کوینه
په سرو شنې جنډې ځلیږي
په دین مین، ټانګو ته، غېږې ورکوینه
ګولۍ وریږي، ډګر سور دی
سره پرچمیان، بې کلمې، دوزخ ته ځینه

کارمله ! اوس، که ته وې، تینګ شه
چې د حق زور، درته معلوم په خپله ښینه
یتیم د رحم مزاوار دی
پلار یې شهید دی، سترګې چاته وا ړوینه
راځئ، چې سر په وطن کښېږدو !
له سره تېر خلک، مدام بری راوړینه
بې ننګه یاره ! رب دې، ورله کړه
د تا همځولي، ښې سنګر کې تېروینه
بې ننګه یاره ! خدای دې، مړ که
ماته ګودر کې جونو، راکړل پېغورونه

رالېږونکی : محمدهاشم ننګیال، د ځاځیو له روکیان غنځه

په چوغنه[1] بیا دنیې، شرو شوې
وروره ! جنګېږه، مجاهد سنګر ته ځینه
„فضل خالق"[2] د مرګې، غږ شو
مور یې، د خدای په رضا پورته کړل لاسونه

---

(۱) د ځاځیو مشهورې چوغنه ته اشاره ده .

(۲) „فضل خالق" د ځاځیو، یو بنکلی ځوانی، چې په „بغلان" کې روسي پوځیانو، په ډېرې بې رحمۍ او ظلم سره شهید کړ .

جنرال «حسين»[1] دې، خداى ګور و ړ کړي
چې دا بې ننګه زوى يې، کور کې، لوياوونه
زامن يې تول، جنګ ته وتلي
سپين سرې مور، لاس په دوعا، شپې تېروينه
که په شمار زر کالونه، تېر شي
هېر به مې نه شي، د شهيد ورور، فريادونه
که په شمار زر کالونه تېر شي
هېر به مې نه شي، د «کابل» ښايسته باغونه
د «چمچه مست» سرکښه سينده!
اوس دې، په غاړه، سره روسان څکروهينه
څنګه پښتو؟ څنګه غيرت دى؟
د ورور په ضد، د سرو روسانو ملاترينه

(ليږونکی: محمد ناصر، د «دوآبې» له کيمپ څخه)

توره له تيکې نه، بهر کړه
په دين غزا ده، لوى - واړه، سنګرته ځينه
توره له تيکې نه، بهر کړه
افغانستان ته، سره روسان، راغلي دينه

---

(۱) د ناولي «ببرک» پلار دى.

د خدای په مینه باندې مسته !
په روسي شوبلو باندې بل کړه سره اورونه

سر د اسلام لار کې قربان کړه !
چې د جنت حورې ـ غلمان دې نصیبېږینه

د آسمان ستورې دې شاهد دي
په ټوله شپه ستا د مېړانې سیل کوینه

د پرهارژلي زړه درمانه !
مجاهد ځوانه ! ستا غور زنګ مزه کوینه

روسان به څنګه ژوندي لاړ شي ؟
ځوانان خوځ شه ، چې ماشومان جهاد ته ځینه

افغانستان یې بحرخون شو
د بحر هند ارمانې زړه کې پاتې شونه

روسان په توپ او ټانک غاور وو
افغان اولس وربانده جوړکړل محشرونه

د مجاهد د توري شرنګ شو
په سرو پوځونو سالنډۍ ولګیدنه

د مجاهد ترتورې ځار شم
له سرو روسانو نه یې غوڅ کړل ورمېږونه

لکه د بوټ په چوکۍ ناست دی
« ببرک » خناس دی، خپله خاوره خرڅوینه

ځې یې په دواړه خوا تورېږي
چا چې د کفر غلامي منلې وینه
د دوزخ کندې به یې ځای شي
بې له اسلامه، چې بل دین غوره کوینه
د انقلاب ډېوې بلیږي
له هر سنګره د «تکبیر» آواز راځینه
افغانستان به خدای آزاد کړي
کمونستان به له غوږو څوړند وونه

راليږونکی: نصرت

د (٩١) ځوابونو برخه:

پوهيږي او داسې یوه ګل ته لېواله دي.

اوس لږ دنیا هم په دې پوه شوې ده، چې د «افغانستان» خلک، د «روس» او «کمونیزم» منلو ته، تیار نه دي. اوس به دنیا هم، موږ په نیمایي لارکې نه پرېږدي او څه چې د نیا ته لازمه ده، هغه دا ده، چې داسې جنګي وسایل زموږ په لاس را کړي، چې «روس» په لازمه اندازه په تکلیف شي.

-پای-

سید مصطفی - فاطمی

تهران

منزلگاه شهید

ای قلب تاریخ ! . . .
ای حماسه ساز حیرت آفرین روی زمین
مأوای تو هست عرش برین !
ای آنکه نام تو بر قلب ها نوشته است
در ژرفنای فؤاد ها بخفته است
یادی از سیر ملکوتی و آسمانیت
وارسته گی از فنا و گرایش به حیات جاودانیت
ای ایجادگر نور و روشنائی ها
آهنگ ظلمت زدائی ها
منهدم کننده طاغوت ها
ویرانگر جبروت ها
نائله ها، دائله ها . . .
هبل ها . . .

بو لهب ها ... بولگانین ها
برژنیف ها، بن گورین ها ...
ببرک کارمل ها .
خورد کنندهٔ ستیزندگی ها
تمثیل کامل زندگی ها
راه میمون و مقدست، راه انسانیت است
پرتوی تابناک از انوار احدیت است .
راهی پرنور و با جلال
درهم شکن سلاسل و اغلال
نام گرامی تو، مایه ایمان است
بر انگیزگر تحمیس و اُملگاه هر مسلمان است

ای قلب تاریخ !
ای بهترین ممثل ایثار ها و فرزانگی ها
سرلوحهٔ زرین جاودانگی ها
نقش اصیل خلیل ها ...
تصویر کامل اسمعیل ها ...
ای ارجمند پاسدار مکتب حسین رض
عالیترین نگهبان حریم حسین رض
با خون پاک تو سیراب گشت نهال اسلامیان
با دشنهٔ تو نابود گشت، دشمن افغانیان

با انزجاق روانت صفا آمد و سلام
از ما به روح پاکت هزاران باد درود و سلام
منزلت تو را رسول اعظم از خدا خواسته است
رحمت گستری که پیامش از هر عیب وارسته است
ای قلب تاریخ
ای رشک چرخ برین
توصیف کرده منزلگه تو را جهان آفرین
زمزمهٔ تو هست اندر علیین
هم پایه نبود با تو کسی روز واپسین
بر شرفت فخر کند شفیع المذنبین
هم رکاب مرکبت روح الامین
فاطمی عطش این بادیه هست، بسی آتشین
کفتان
منزلگه خونین است نصرت آفرین

۱۲ ربیع الاول ۱۴۰۵

وبرزوا لله جمیعا فقال الضعفوٴ للذین استکبروا انا کنا لکم تبعا فهل انتم مغنون عنا من عذاب الله من شیء قالوا لو هدانا الله لهدینکم، سواء علینا اجزعنا ام صبرنا مالنا من محیص•

(سوره ابراهیم، ۲۱)

«وهمه برملا حاضر شوند برای خدا ج، بعد ضعفا به کبیشان بگویند: ما پیروی تان بودیم پس آیا شما از عذاب الهی چیزی را از ما دفع کننده هستید؟ گویند: اگر خداوند ج، ما را هدایت میکرد حتماً شما را رهنمائی میکردیم برابر است برما اگر جزع وفزع کنیم ویا شکیبائی ورزیم نیست ما را هیچ مخلصی»

یا اینکه،

واذ یتحاجون فی النار فیقول الضعفاء للذین استکبروا انا کنا لکم تبعا فهل انتم مغنون عنا نصیبا من النار، قال الذین استکبروا انا کل فیها ان الله قد حکم بین العباد•

(سوره المؤمن، ۴۷-۴۸)

«وآنگاه که در آتش باهم محاجه کنند پس ضعفا به مستکبرین گویند، یقیناً ما پیروی شما بودیم پس آیا شما از ما دفع کنندهٔ برخی از عقوبت آتش هستید؟ متکبرین گویند: ماهمه در آنیم یقیناً خداوند ج، خود میان بندگان فیصله کرده است.»

سپېدې

میاشتنۍ ادبي مجله



(۱۸)

بسم اللہ الرحمن الرحیم

اَللّٰہُ وَلِیُّ الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا یُخْرِجُھُمْ مِّنَ الظُّلُمٰتِ اِلَی
النُّوْرِ ۵ وَالَّذِیْنَ کَفَرُوْٓا اَوْلِیٰٓئُھُمُ الطَّاغُوْتُ
یُخْرِجُوْنَھُمْ مِّنَ النُّوْرِ اِلَی الظُّلُمٰتِ ط اُولٰٓئِکَ
اَصْحٰبُ النَّارِ ھُمْ فِیْھَا خٰلِدُوْنَ ۴

سورۃ البقرۃ آیت (۲۵۷)

وجہ اشتراک سالانہ :

در امریکا ـ ۳۰ دالر
در اروپا ـ ۲۵ ،،
در پاکستان ـ ٦۰ روپیہ

شش ماھہ :

نصف قیمت

بانکي حساب :

حبیب بینک لمیتڈ ، خیبر بازار برانچ ـ پیښور

اکاونټ نمبر : 7 - 3047

بسم الله الرحمن الرحیم

سپیدې

دویم کال، شپږمه گڼه، د ۱۳۶۴ش - هـ د مرغومي ۲۰ مه

د ۱۹۸۵م د جنورۍ ۱۰ مه

چلوونکی :

محمد صدیق - پسرلی

زموږ پته :

G.P.O
P.O.BOX NO 665
PESHAWAR
PAKISTAN

فهرست

شمېره	مضمون	ليکوال	مخ
۱	تفسيري از آيات قرآن حکيم		۳
۲	د بشريت د سترلارښوونکو په وړاندې	عزوال	۱۰
۳	اسوېلي	غمخور	۱۲
۴	د اسې کيږي کله - کله	عرفان خټک	۱۳
۵	پکتيا ته	تسکين	۱۶
۶	... خوستا ترټولو ګرځم!	رفيع	۱۹
۷	ليدلی خوب	رنځور	۲۲
۸	پټه وېره	پسرلی	۳۴
۹	زويه! ستا دې ...	پرديس	۳۹
۱۰	... او له لاسه يې	نويد	۴۴
۱۱	سرې شپې او تودې وينې	امان الله ساهو	۵۰
۱۲	د خپلې خوښې عسکري	عزوال	۶۵
۱۳	عنبرګې جنازې	شيخ مرات	۶۶
۱۴	روس به څنګه باسو؟	تنهيوال	۷۶
۱۵	لنډۍ	—	۹۲
۱۶	منزلګاه شهيد	فاطمي	۹۷
۱۷	د سالنګو نوژمی	قانع	۱۰۰
۱۸	د پرديو سوغات	چشتي	۱۰۳
۱۹	د مرچل سرود	زرکه	۱۰۵
۲۰	د وروړ په ننګ	فريد	۱۰۷
۲۱	نامه	واقف	۱۰۹